شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك مركزي نشراتي ارگان

لوي خداى "ج" فرمايي: څوك چي په قصد سره يو مؤمن ووژني (او قتل ځانته روا وبولي) نو د هغه جزا دوزخ دي، چي په دغه دوزخ كي به د تل دپاره وي.
(النسا-۹۳)

از ابوذر و معاد بن جبل رضي الله عنهما روايت است كه رسول الله «ص» فرمود: از خدا«ج» بترس هر كجائي كه بودي و در مقابل بدي نيكي كن تا آنرا محو نمايد و با مردم به شيوهء نيكو و اخلاق پسنديده رفتار كن!
(اربعين نووي رح)

دوهم كال يوو لسمه گڼه پرله پسي (٦١) چهار شنبه د۱۳۷۵ هـ ش كال د حوت دمياشتي (۲۹) د۱۹۹۷ميلادي كال مارچ (۱۹) د١٤١٧هـ ق كال د ذي القعده (۱۱)

تذكر خطر ايمان است اگر به اين كلمات مقدس بي حرمتي كنيد.

دانشمندان در سيمينار "د اسلامي افغانستان د فرهنگ او كلتور د بيا رغاوني په لور هاند او هڅې" گفتند:

گرسنگي و تشنگي، فقر و مسكنت كدام طعنه و پيغور نبوده در نزد پروردگار عيب نمي باشد، اما بي ديني، بي همتي و پيروي از بيگانگان و نعوذ بالله غلامي در دنيا و آخرت باعث ذلت و خواري ميگردد

از پيام عاليقدر امير المؤمنين عنواني سيمنار «كوشش ها و مساعي در راه باز سازي فرهنگ و كلتور افغانستان اسلامي»

ما در فكر بدست اوردن چوكي، رتبه، پول و مال بيت المال نمي باشيم؛ بلكه بايد همه فكر و عمل خود را در راه آسايش مردم و نيكبختي دنيا و آخرت خويش وقف نمائيم

از پيام محترم الحاج ملا محمد «رباني» رئيس شوراي سرپرست دولت اسلامي عنواني سيمنار

بزرگترين دست آورد اين سيمينار اين ميباشد كه بعد از سال هاي سال دانشمندان و فرهنگيان ما در افغانستان آزاد اسلامي گرد هم جمع شده و در مورد پيشرفت و غنامندي فرهنگ اصيل و اسلامي وطن خويش، بحث و نظر خواهي ميكنند

ملا امير خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و كلتور

محاسبه در اسلام، محاسبهء قلب و دل است، بيائيد تا در غنامندي فرهنگ اسلامي كشور خويش از دل و جان عزم و عمل نمائيم

مولوي محمد طاهر «انوري» رئيس اداره امور رياست دولت اسلامي افغانستان

د طالبانو لخوا د غير اسلامي كلتور مخه نيول د ستاينې وړ اقدام دی، موږ بايد د ساينس او تكنالوژۍ په ساحه كي له غربيانو او اروپايانو سره سيالي وكړو

اكاډميسن پوهاند عبدالشكور «رشاد»

با قرائت پيام خردمندانه عاليقدر امير المؤمنين «سيمينار علمي و فرهنگي تحت عنوان «د اسلامي افغانستان د فرهنگ او كلتور د بيا رغاوني په لور هاند او هڅې» قبل از ظهر روز يكشنبه از جانب وزارت اطلاعات و كلتور دولت اسلامي افغانستان، در تالار كنفرانس هاي هوتل انتر كانتيننتال داير گرديد.

در سيمينار، علاوه بر هيئت رهبري وزارت اطلاعات و كلتور، عده، از وزرا، جمعي از اراكين بلند رتبه دولتي، دانشمندان، فرهنگيان اهل خبره كشور، علماي كرام، و جمعي از ژورناليستان اشتراك ورزيده بودند.

خبرنگار هفته نامه «شريعت» از جريان كار سيمينار چنين گزارش داد:

سيمينار با تلاوت آيات چند از كلام الله مجيد، توسط محترم مولوي ذكي الله «اشرقي» آغاز گرديده، سپس محترم ملا امير خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و كلتور، تشريف آوري دانشمندان و فرهنگيان كشور را در اين سيمينار با شكوه خوش آمديد گفته، در خطاب به آنان گفتند:

امروز جاي بس خوشي و افتخار است كه دانشمندان و فرهنگيان مسلمان كشور ما، به منظور غنامندي و ترقي فرهنگ اسلامي جامعه خويش گرد هم جمع شده، ميخواهند كه بعد از اين ص ٤

پيام عاليقدر امير المؤمنين عنواني سيمينار تحت عنوان كوشش ها و مساعي در راه باز سازي فرهنگ و كلتور افغانستان اسلامي

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم اما بعد:

برادران محترم شركت كننده در سيمينار علمي و فرهنگي

السلام عليكم و رحمت الله و بركاته

اينك شما با بن همه مشكلات كه داريد باز هم به باز سازي و زنده ساختن فرهنگ اسلامي، علم و دانش و در راه اعمار افغانستان آينده مساعي به خرچ ميدهيد، خداوند بزرگ شما را به فرهنگ اسلامي آراسته سازد و در هر دو جهان سر بلند و كامياب داشته باشد.

برادران!

افغانستان در چند دهه گذشته چنانچه پيكر ظاهر آن ويران شده و خساره ديده است به همان اندازه در ساحه ارزشهاي معنوي به مشكلات روبرو گرديده است. دشمنان دين و وطن با استفاده از بي بندو باريها و بي نظمي هاي گذشته در داخل و خارج بر عليه دين و فرهنگ مردم كشور ما تحت عناوين مختلف به لباس دوست و دشمن حمله كردند و ميكنند.

من از خداوند متعال مي خواهم شما برادران كه خداوند«ج» براي تان در حصه قلم و زبان استعداد هاي نيك را نصيب كرده است، به انجام دادن خدمات نيكوي فرهنگي و كلتوري به مشكلات عايده خاتمه دهيد.

خواهش من اين است چنانيكه برادران طالب به قرباني نمودن سر ها و ريختن خون هاي پاك شان شمله امت مسلمه را بلند ساختند و در حساس ترين شرايط، تاريخ صدر اسلام را زنده نمودند، شما هم در ميدان فرهنگ و دانش براي مسلمانان باعث افتخار گرديد.

ما تا اندازه توان و قدرت كه در اختيار داشته باشيم در راه حل مشكلات شما، تربيه نسل جديد در افغانستان دريغ نخواهيم كرد.

در اخير گفتني يك سخن را ضروري ميدانم اميد است كه به غور كامل آن را بشنويد: گرسنگي و تشنگي، فقر و مسكنت كدام طعنه و پيغور نبوده در نزد پروردگار عيب نمي باشد، اما بي ديني، بي همتي و پيروي از بيگانگان و نعوذ بالله غلامي در دنيا و آخرت باعث ذلت و خواري ميگردد.

خداوند«ج» براي ما و شما در سختي و آساني همت عالي، استقامت و توفيق خدمت نيك نصيب فرمايد.

والسلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

خادم اسلام ملا محمد عمر مجاهد

«د اسلامي افغانستان د فرهنگ او كلتور د بيا رغونې په لور هاندونه او هڅې» تر عنوان لاندې سيمينار ته د افغانستان د اسلامي دولت د سرپرستي شورا د رئيس محترم الحاج ملا محمد رباني پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و العاقبة للمتقين و لا عدوان الاعلي الظالمين.

اما بعد: محترمو علماوو، پوهانو، د اسلامي فرهنگ مينه والو، گرانو مجاهدينو، غيرتمنو هيواد والو!

السلام عليكم و رحمت الله و بركاته:

د الله تعالي حمد او ثنا وايو چي: «يا ربي لك الحمد كما ينبغي لجلال وجهك و لعظيم سلطانك، يا رب لا أحصي ثناءً عليك انت كما اثنيت علي نفسك» او شكر يي اداً كوو چي په خپل فضل او مهرباني، د شهيدانو كرامو (رحمة الله عليهم) د بيدريغه قربانيو اود مخلصو مجاهدينو د اخلاص په بركت سره يي لوموړي د كمونيزم له سره شاماره له زموږ اسلامي هيواد او د نړۍ مستضعفين - كمزوري او بې وسه ولسونه وژغورل او له هغه نه دا وروسته يي د وطني منحرفينو، خلورم مخ

د اطلاعاتو او كلتور وزارت سرپرست محترم ملا امير خان «متقي» د خپل كار په دفتر كي د يونسكو د اداري له مسؤول سره وكتل

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړی په دي كښته كي د واړو خواو د علاقې وړ موضوعگانو او په تيره بيا د ملي موزيم، عامه كتابتونونو او ملي ارشيف د بيا جوړولو په باب خبري اترې وكړې. وروسته د يونسكو د اداري مسؤول خلورم مخ

يك فروند جت جنگي مليشه هاي دوستم، در مربوطات ولايت بادغيس سقوط داده شد

آژانس اطلاعاتي باختر بقول منابع قوي مبلغ كشور خبر ميدهد: طياره مذكور كه ميخواست محلات مسكوني آن ولايت را مورد بمباردمان قرار دهد، توسط دو فروند طياره شكاري اردوي اسلامي تعقيب و مورد هدف قرار داده شد كه ص ٤

قابل توجه علاقمندان شعر و ادب

اداره جريده «شريعت» به اطلاع تمام شعرا و ادبا كشور كه قبلاً جهت شركت در مشاعره بهاري پارچه هاي شعري و ادبي خويش را به اداره هفته نامه «شريعت» سپرده اند و از ذواتي كه دعوت صورت گرفته است ميرساند جهت شركت درين مشاعره بهاري به آدرس و وقت معينه ذيل حضور بهم رسانند:

محل: صالون كنفرانسهاي هوتل انتر كانتيننتال

وقت: روز جمعه اول حمل ١٣٧٦ هـ ش ساعت ٨:٣٠ قبل از ظهر

امتحان كانكور شموليت به موسسات تحصيلات عالي كشور اخذ گرديد

در امتحان مذكور دو هزار و پنجاه تن محصل شركت داشتند

امتحان كانكور شموليت به موسسات عالي تحصيلي كشور قبل از ظهر روز دوشنبه مؤرخ ۲۷ حوت اخذ گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد از جريان امتحان كه در پوهنتون كابل اخذ گرديد، محترم مولوي حمد الله نعماني سر پرست وزارت تحصيلات عالي، محترم مولوي احمد جان سرپرست وزارت معادن و صنايع محترم مولوي عصمت الله عاصم معين وزارت امور سرحدات، رئيس پوهنتون كابل، روساي موسسات تحصيلي كشور هيأت رهبري وزارت تحصيلات عالي بازديد بعمل آوردند.

در امتحان كانكور كه ص ٤

د لوكيسلوانو په طاقت د شريعت غږ راډيو د كندهار په ولايت كي فعاله شوه

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړی دغه دستگاه چي د يوي مودي راپديخوا له فعاليت نه لويدلي وه، ددي ځاي د مخلصو انجنيرانو د هلو ځلو له امله په دي وروستيو وختونو كي د ميډيم په موج فعاله او د استفادي وړ وگرځيد.

په وزير اكبر خان د روغتيا او ښوونځي او ښوونو ښاپاركي لخوا په زرنگار پارك كي د ښوونځي وركړه شوه

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړی د تيالگيو دابسودلو په غونډه كي چي په زرنگار پارك كي جوړه شوي وه، د افغانستان د اسلامي دولت د چارو د اداري رئيس محترم الحاج محمد طاهر «انوري» د عدليي وزارت معين محترم مولوي آل آغا گلابي، محترم مولوي جان محمد او محترم مولوي عبيد الله په خپل وار سره د دولو طالبانو د اسلامي تحريك د هڅو او پروگرامونو او په هيواد كي د محمدي غرا شريعت د نافذولو په باره كي خبري وكړې او تير كال يي د افغانستان د مسلمانانو او د نړۍ د نورو مسلمانانو لپاره د سولې، نيكمرغي او ځوښي كال وباله.

غونډه د كابل ښاروال محترم مولوي عبد المجيد او په غونډه كي د برخه والو دولتي لوړ رتبه كسانو كمونيكو لخوا د تيالگيو په ابسودلو سره پاي ته ورسيده.

د نيشه يي مواد و پر خلاف د مبارزي د دولتي عالي كميسون غونډه جوړه شوه

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړی په غونډه كي لومړي ددغه كميسون د مالي او پلان جوړوني د چارو د اختصاصي كميټې د روان كال د وروستيو شپږو مياشتو د كار او فعاليت او د اجراتو اساسي رپوټ ولوستل شو چې د غونډي لخوا تائيد شو. همدا راز په غونډه كي په گټورو او مروجه پوړو پاندي د كوكنارو د كركيلي د بدلون په ماستر پلان كي د پراختيايي شرحه شوېو پروژو د تطبيق او د راتلونكي كال لپاره د افغانستان د اسلامي دولت په قلمرو كي د نيشه يي موادو د قاچاقو پر خلاف د عملي مبارزې د پلانونو د طرحه كولو په مقصد د يو. ان. ډي. سي. پي او د نيشه يي موادو د مسيطكر هيوادونو د مالي او تخنيكي مرستو د جلب او جذب د امركانو په باب خبري اترې وشوې او پدې برخه كي لازم تصميمونه ونيول شول.

محترم ملا محمد غوث اخند سرپرست وزارت امور خارجه دولت اسلامي افغانستان در دفتر كارش با هيأت سياسي كشور انگلستان ملاقات بعمل آورد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد درين ملاقات كرولاين، امر ديسك جنوب اسيا در وزارت امور خارجه انگلستان آقاي جيمزوات معاون كميشنري عالي سفارت انگلستان در اسلام اباد و ساغلي دومنيك جرمي قونسل امور اقتصادي كميشنري عالي انگلستان در اسلام اباد شامل بودند. در اين مذاكرات طرفين پيرامون مسايل مورد علاقه دو كشور و موضوعات منطقوي و جهاني صحبت نمودند.

طبق يك خبر ديگر محترم ملا محمد غوث اخند سرپرست وزارت ص ٤

زموږ شيعه ورونو له اسلامي دولت سره خپل هراړخيزه ملاتړ اعلان كړ

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړی: زموږ د شيعه ورونو عالمانو سپين ږيرو او مخورو د مهدويه په جامع مسجد كي د پراخي غونډي په جوړولو سره د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او پيوستون اعلان كړ او د افغانستان په كورنيو چارو كي يي د بهرنيو هيوادونو لاس وهني و غندلي.

غونډه د محترم سيد محمد حسين لخوا د عظيم الشأن كلام د څو ايتونو په لوستلو سره پيل شوه او وروسته محترم ايت الله تقدسي، محترم احمد جاغوري، محترم قسيمي او محترم سجادي په خپل وار سره د هغې سولي او امنيت په باب چي د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحريك لخوا په هيواد كي ټينگ شويدي خبري وكړي اود افغانستان له اسلامي دولت سره يي خپل بشپړ ملاتړ څرگند كړ.

وياندالو د هغو اقداماتو له امله چي د اسلامي دولت لخوا د هيواد د اوسيدونكو تر منځ د اخوت او ورورولي او د سولي د تامين په لاره كي شويدي مننه څرگنده كړه او د هيواد په كورنيو چارو كي يي د بهرنيانو تبليغات او لاس وهني وغندلي.

دو سيت جين پانزده هزار ولت برق، از مربوطات ناحيه يازدهم شهر كابل بدست آمد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: جين هاي مذكور كه ارزش مجموعي آن به ۲۷ مليون افغاني ميگردد، توسط كاركنان رياست چهار استخبارات كشف و به وزارت آب و برق تسليم داده شد.

سرمقاله

ولوي خداي (ج) په نامه

پسرلی اود كارونو تازه ولولي

الله تعالي انسانان او پيريان يوازي د خپل معرفت او بندگي (عبادت) لپاره پيدا كړي دي او بس؛ مگر بندگي په ژوند پوري تړلي او په ژوندانه ولاړه ده كه ژوند نه وي بندگي نشته، الله تعالي له مرونه هيڅ بندگي نه غواړي بلكي د ژوند د وخت د بندگي پوښتنه ورڅخه كوي؛

په دغه ترتيب سره ژوند د الله تعالي د بندگي لپاره شرط دي او په اسلامي شريعت كي فورمول او قاعده داسي دي چي شرط د مشروط حكم اخلي، د ساري په توگه: اودس د لمانځه لپاره شرط دي كه اودس د لمانځه لپاره وكړاي شي نو اودس هم لكه لمونځ عبادت دي او د عبادت ثواب وربانديي گڼل كيږي او كه د پاكي او نظافت باد اندامونو ديخولو لپاره د اوداسه اندامونه ومينځل شي نو عبادت نه گڼل كيږي او د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د مذهب په حكم، لمونځ په دغسي اوداسه باندي بي له شكه صحيح دي.

اوس دا خبره واضح شوه چي كه څوك ژوند د ژوند لپاره كوي په هغه ژوند كي عبادتونه بي له شكه عبادتونه دي او شرعي اعتبار لري كه له شرعي احكامو سره سم وو، مگر ټول ژوند عبادت نه دي او كه څوك ژوند د عبادت لپاره كوي نو ټول ژوند - ان تر دي چي خوب كول - يي هم عبادات دي او نور هر څه چي د ژوند لپاره له شرعي احكامو سره سم كوي هغه هم عبادتونه دي ځكه دا هم په اسلامي شريعت كي راغلي دي چي د شرط شرط هم كله كله د مشروط حكم اخلي لكه د اوداسه لپاره اوبه په بيه اخستل (۲مخ)

برادران طالب با قرباني نمودن سر ها و ريختن خونهاى شان شمله امت مسلمه را بلند ساختند

د اسلام د خادم، عاليقدر امير المؤمنين له ويناوو څخه

شريعت

دامتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتأسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج مولوى عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
ديوې ګڼې بيه : په هيواد كې (۱۲۰۰) افغانۍ
په پاكستان كې (۲) كلدارې
آدرس : كابل وزيرأكبر خان مينه/سرك۱۱/ كور (٥٢٠)
تيلفون : ۲۱۲۸۱- توزيع و شكايات ٦۲۸٥٩
پوست بكس : (٤٧١)
په پيښور كې : دطالبانو نمايندګي/ تيلفون: ۸٤٤۲۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷

د سرمقالې پاڼې

چي مالي عبادت دي له دي امله ده چي هوښيار انسانان ژوند د عبادت لپاره کوي نه ژوند د ژوند لپاره لکه چي وايي : نان از براي كنج عبادت گرفته اند؛ صاحبدلان نه كنج عبادت براي نان. ياد طالبانو مثل چه وايي: چانده براي مدرسه او كه مدرسه براي چانده ؟

گرانو لوستونكو ! كله چي دا خبره تثبيت دي چي د انسان ژوند د بندګي لپاره شرط دي او د الله تعالى بندګي په ژوندانه ولاړه ده نو د انسانانو ژوند خو ډيرو شيانو ته اړتيا لري لكه غذا (خوراك او څښاك) كالي، ددي لپاره چي عورت يي ورباندي پټ وي او د هوا له بدي اغيزي نه يي وژغوري كور (سرپناه) ددي لپاره چي له باران، باد، يخني او ګرمي او ځيرونكيو ژوبو نه يي وژغوري ، روغتيا، ددي لپاره چي عبادت او د ژوند د تامينولو لپاره زيار وكړاي شي، امن، ددي لپاره چي د يي لاري انسانانو له وژلو، ربړولو، غلا او ضرر نه يي وساتي او داسي نور ... دغه د انساني ژوندانه ځيني لومړني ضروريات او بنسټيزي اړتيا وي دي چي له دغو پرته بشري ژوند نه شي تامينيدلاي، الله تعالى د ټول مخلوق او د انسانانو پروردګار دي او د پروردګار معني دا ده چي د پرورده (روزل شوي) مخلوق لپاره به خوراك، كالي، كور، روغتيا او د ژوند نوري اړتيا وي وررسوي مګر له انسانانو سره يي له پيل نه داسي عادت دي : انسان ته وايي: د تخم داني په پاكلي وخت تر خاورو ته لاندي كړه او تيالګي ته كيږده باران به زه وورباندي اوروم يا به له ځمكي نه او به را خوټوم چي هغه بوټي او ونه اوبه وخوري، ريښي به يي په ځمكه كي غزول او ونه به يي له ځمكي راپورته كول دواړه زه كوم د هغه بوټي اووني په سركي به داني او ميوه زه پيدا كوم او په لمر به يي درته پخه وم، غواګاني او نور څاروي به زه درته پيدا كوم او ته به يي روزي او زه به له هغو نه شودي اوغوړي دركوم او د هغود غوښو د خوراك اجازه به هم درته كوم خو هلته چي په پاكلي طريقه سره يي ذبح كړئ، له پوستكو او وړيو نه يي هم ګټه واخلئ، د پنبه داني اوورته داني به په پاكلي وخت تاسي له خاورو لاندي كوي روزنه به يي زه كوم تر څو بي د بوټي په سر كي د سپينو پنبه ووغوټي درته پيدا كړم له هغه نه به تارونه او بيا كالي ته ځان ته جوړوي، خاوره ما د خښتو كولو لپاره تياره پيدا كړي ده ، او به هم ما درته پيدا كړي دي ، خښتي به ته كوي، ديوالونه به ته وهي زما لمر به يي درته وچه وي، په چت به بي بيا هغه وني او واښه واچوي چي ماله ځمكي نه درته را پيدا كړي دي په دغه ترتيب سره به ځان ته سرپناه جوړه كړي . په ځينو بوټو، ميووكي او ځيني كاڼوكي مي داسي خاصيتونه ايښي دي چي د ناروغيو درمل كيداي شي دغه خاصيتونه به ځني د پيغمبرانو – عليم الصلوة والسلام – په واسطه در ته وښيم او ځيني به پخپلو تجربو معلوم كړئ درمل به ورنه جوړ كړي او په دغه شان سره به د خپلي روغتيا ساتنه كوئ .

د امن لپاره به تاسي له خپله منځه يو نيك ، پرهيزګاره او پياوړي سړي په ځانونو باندي امير كړئ هغه ته به بشري او مالي ځواك په لاس كي وركړي او پوره اطاعت بي به يي كوي هغه به ستاسي امنيت وساتي . په دا پورته يادشوي مطلب باندي د انسانانو د پوره پوهولو او اغيزمن تفهيم لپاره الله تعالى د پيغمبرانو عليم الصلوة والسلام ډير اورده لړي له سيدنا ادم نه تر محمد رسول الله پوري – عليهما الصلوة والسلام – را استولي دي او هر يوه د خپل رسالت په دنده (دعوت الي الله) بر سيره انسانانو ته د ژوند د تامينولو لاري هم ورزده كړيدي له دي امله ده چي اسلامي شريعت انسانانو ته د انساني ژوند د اړتيا وو پوره كولو لپاره نه يوازي اجازه وركړي ده بلكي د كار او عمل په هكله يي ډيره هڅونه كړي ده او ډير حديثونه مبارك راغلي دي چي بنده كار او عمل ته هڅوي . اسلامي فقه د ژوندانه د اړتياوو او د انسانانو تر منځ د اړيكو په هكله دومره غني قانون دي چي په نړۍ كي بي ساري نشته او نړۍ وال په دي خبره په خپله اعتراف كوي . نو ځكه د پسرلي په رارسيدلو سره په خپلو ګرانو وطنوالو غږ كوو او هيله ورنه كوو چي ډيره كلكه ملاوتړئ د انساني انرژي او قوت، د كار ولوله او شوق له بل هر وخت نه په پسرلي كي زيات را خوټيدلي وي، د ميوي او بي ميوي په لكونو نيالونه كيږدي ، په زرګونو جريبه ځمكه د پسرلي په كرونده وكړئ، الحمد لله، بارانونه سه ډير دي، امنيت ټينګ دي، د ظالمانو له شر او فساد نه مو ځوږوته په كرار دي، له كرني وروسته د وراتو كوروونو په جوړولو پيل وكړئ، خپلي ويجاړي جونګړي بيرته وداني كړئ، مالداري ته موچي ځومره وس رسيږي هڅومره وده وركړئ د خپل ځان او خپلو هيوادوالو د ژوندانه د اړتياوو په پوره كولو او تباه شوي هيواد په سمسور كولو كي خپل وس او توان مه دريغوي او دا هر څه ددي لپاره وكړئ چي مونږ مسلمانان يو د الله تعالى بندګان يو د ژوند ټولي اړتيا وي د ژوند د تامينولو لپاره پوره كوو او ژوند د الله تعالى د عبادت لپاره غواړو.

و من الله الهداية والتوفيق

د حيرانۍ خبره ده

قتيل خوږياڼي

د رواني مياشتي د لسمي نيټي په سهار بي بي سي راديو په خپله پيښتو خپرونه كي د يو شمير پوهانو او د نظر د خاوندانو تقريباً ګردي ميز جوړ كړي ؤ په دغه ګردي ميز كي « چه افغانستان كي د ماشومانو د هلكانو اونجونو د تعليم، له كور څخه بهر د ښځو د كار او ملګرو ملتونو د موسسو په مرستو د بنديز مسألي » تر څيړني لاندي ونيول شوي . د بي بي سي خبريال هڅه كوله چي د خپل هميشني عادت سره سم خپلي پوښتني په داسي توګه پيل كړي چي منفي اړخ يي د مثبت اړخ په نسبت درونـد وي، ده دا ويل چي په افغانستان كي د طالبانو د اسلامي تحريك له بريااليتوب څخه را په ديخوا په هغو سيمو كي چي د كابل د ولايت په شمول د دوي تر حاكميت لاندي دي د ماشومانو ښووني او روزني ته پاملرنه نه ده شوي او د ماشومانو ښوونګي تړل شوي او نجونو ته دا حق نه وركول كيږي چي ښوونځيو ته لاړي شي او خپلو علمي زده كړو ته دوام وركړي، بله دا چي ښځينه په رسمي دوايروكي د كار اجازه نه وركول كيږي او همدا علت دي چي د ملګرو ملتونو موسسي خپلو ټولو اړوندو موسسوته لارښوونه كړيده چي له افغانستان سره خپلي مرستي وځنډوئ .

اوس به راشو دي خبري ته چي له ماشومانو څخه د ملګرو ملتو د نړيوالي موسسي چي افغانستان يي له ډيرو كلونو څخه را په ديخوا غړي دي او د هغه موسسي نه ډيري هيلي او توقعات لري مطلب يوازي نجونې دي او كه په ماشومانو كي هلكان هم شامل دي، په افغانستان كي خو په ښوونځيو سربيره ان په جومانونو كي د هلكانو تعليم روان دي او په تير تعليمي كال كي بي لوستو نه په پوره نظم لوستل كيده او د كال په پاي كي يي ازموينه وركړه او د معمول سره سم اوس د خپلي دري مياشتني رخصتي وروستي ورځي تيروي البته په اوسني وخت كي د افغانستان اسلامي دولت ددي مالي توان نه لري چي نجونو ته په ځانګړي توګه د ضروري تحصيل او زده كړي بيل ځاي د اسلامي شريعت له احكامو سره سم برابر او دوي په كي خپلو لوستونو ته دوام وركړي البته دزمينې د برابريدلو اود موجودو خنډونو د لري كيدلو په صورت كي به د نجونو ښوونګي پرانيزي او د هيواد لوڼي به په كي د شرعي احكامو مطابق په لوست بوختي شي. خو د حيرانۍ خبره دا ده چي ملګري ملتونه ولي خپلي مرستي د نجونو د تعليم پوري مربوطي بولي او نارينه ماشومان له خپلو هغو نړيوالو مرستو څخه بي برخي كوي چي ددغي موسسي له خوا له ټولو غړيو هيوادونو له ماشومانو سره كيږي او دا د دوي مسلم حق دي. كه د ملګرو ملتو موسسه او يونيسف ماشومان يوازي نجوني بولي دا بيا بيله خبره ده چي سړي ته نور ګومانونه پيدا كوي را به شو په دوايرو كي د ښځو كارته، همدا اوس په ټولو روغتونو او زيږنتونونو كي ښځينه ډاكټراني او نرساني كار كوي او د خپلو ناروغو او اړو خويندو په خدمت بوختي دي او هيڅوك يي روغتونو نو ته د ورتللو مخه نه نيسي البته د شرعي احكامو د رعايت كولو سره سم نه په هغه توګه چي د شر او فساد د تيري اداري په وخت كي انساني او شرعي نورمونه او احكام تر پښو لاندي كړي و او له روغتونونو او رسمي دوايرو څخه د مفسدانو د ساعت تيري او فحاشي مركزونه جوړ شوي ؤ او له ښځو څخه د ملعبي او د ساعت تيري د يوي الي او تانځكي په توګه كار اخيستل كيده لكه چي همدا څو ورځي مخكي د افغانستان د اسلامي دولت د اعلاميو او شرعي احكامو او قوانينو دنه رعايت كولو مطابق دووتنو فرانسوي اتباعو له ښځو سره د ساعت تيري محفل جوړ كړي او په دغه محفل كي ټول انساني او افغاني نورمونه او اسلامي احكام له نظره غورځول شوي وو .

همدا اوس چي د ملګرو ملتو د موسسو د اړوند ادارو له خوا په افغانستان په تيره په كابل كي كومي مرستي رواني دي زياتره يي د كونډو په نامه له هغو ښځو سره رواني دي چي اكثره يي كونډي نه دي او نوي د بلوغ سري شيبي تيروي او ځينو يي غيرتانو حتى خپلي پيغلي لوڼي د كونډو په نامه معرفي كړي او د ګذر له وكيلانو سره د جوړښت له امله يي استاد ورته جوړ كړي او بهرني موسسي په ډيره خوشحالي او اخلاص لاس مرسته ورسره كوي، خو هغه ښځي چي واقعاً كونډي او د مرستي مستحقي دي د غو بهرنيو موسسو ته په بيا بيا مراجعو ستړي شوي خو څوك يي په كيسه كي نه دي سړي حيران پاتي كيږي چي دغه بهرني مرستندويه موسسي د دوي په موسسو كي د ښځو او كاركولو څخه څه هدف لري او مطلب يي څه دي او كه نه نو ډير تارينه ځوانان دي چي وزګار ګرزي خو بهرني موسسي يي كارته ضرورت نه لري سره له دي چي ښځو په نسبت د كار زيات توان لري .

د ملګرو ملتونو موسسه بايد په دغه برخه كي په خپلي پاليسي نوي كتنه وكړي او لږ تر لږه دا پـه پام كـي ولري چي افغانستان يو اسلامي هيواد دي په دغه هيواد كي هغه احكام په نظر كښي نيول كيږي چي اسلامي شريعت او افغاني دودونه يي لارښوونه كوي دلته د لويديځو هيوادونو په شان ښځي په خپل سر نه دي او دوي د يو لړ اسلامي او افغاني قوانينو تابع دي چي د ملګرو ملتو موسسه يي په هر حال بايد په نظر كي ونيسي او داسي خيال ونه كړي چي افغانان به ګوندي د دوي د مرستو په وړاندي خپل پت او عزت او د اسلامي شريعت احكام نعوذ بالله تر پښو لاندي كړي .

د افغانستان اسلامي دولت به هيڅكله هغو مرستو ته غاړه كيږه نه كړي چي زمونږ د خويندو او ميندو د بي عزتي او بي عفتي په بيه تر لاسه كيږي .

زمونږ هيواد د شوروي اتحاد يرغلګرو ځواكونو او د شر او فساد د تيري اداري څلور كلنو جګړو په كنډوالو بدل كړي، فابريكي او نوري توليدي موسسي يي ورنه اخيستي كڼي، معدني او كلتوري شتمني يي چور شوي او داسي څه ورته نه دي پاتي چي سترګي ورواړي د ملګرو ملتو نړيواله موسسه بايد خپلي اړوند موسسي دغي برخي ته متوجه كړي چي ددغه لرغوني او تاريخي هيواد به بيا رغاونه كي په خپل ټول ځواك برخه واخلي او خپله مرسته په دي پوري تړلي و نه بولي چه كه ښځي له دوي سره د دوي په دفتروكي يو ځاي كار، و نه كړي دوي به خپلي مرستي وځنډوي ځكه چي دغه كار نوري بد ګوماني را منځته كوي .

د روس جاسوسان او غلامان وطن ته د وروستي خيانت او خپل بادارته د وروستي خدمت په درشل كي

ا.زين غر

ټولو وطنوالو ته په ډاګه ځرګنده ده چي د داؤد د رژيم له سقوط نه وروسته كله چي د وطن سياسي واګي د خلق او پرچم ګډلو ته په لاس ورغلي، نو روسانو په ګران افغانستان كي د خپلو ايجنټانو او جواسيسو له لياري مستقيمه مداخله پيل كړه .

په لومړيو وختونو كي (د خلقيانو د اقتدار په موده كي) دا مداخله د ټولو امورو په ساحه كي، كه اقتصادي امور و كه سياسي يا ټولنيز امور و ، د مشاورينو راليږلو په جامه كي تر سره كيده . اما كله چي د هغه وخت د افغانستان د خلق د خاين دموكراتيك ګوند د خلقي اړخ غلامانو مشرانو په سياسي ډګر كي د پرچميانو په ګوښه كولو پيل وكړ، او نورتي د وخت د شوروي اتحاد د واكمنانو اعتماد نشو جلبولاي او په دوي د زمان په تيريدو سره د شورويانو بي اعتمادي ورځ په ورځ زياتيدله او د دوي لاس پوڅي مشران نور په سياسي ډګر كي د هغوي په درد نه لګيدل، نوتي د دي وطن (او حتى ويلي شو چي د دنيا) لوي شيطان او وطن پلورونكي كارمل چي د تيرو وختونو شاه شجاع تري نه په زر واره يا شرفه ښكاري، د خپلو ټانكونو د كشارونو په مخكي دي وطن ته راننويست او وريسي بي سري وحشي لښكري د سوله خوښوونكو او افغانستان د بي دفاع مسلمانو خلكو په سرنوشت د لوبي كولو لپاره راوليږلي .

وطن په ويراخته شو، د وطن ريښتينو بچيانو په تش لاس د خپلو باتورو او ميړنيو نيكونو په څير د هغه دښمن مقابلي ته ورودانګل چي د عصر د ټولونه د پر مختللو وسلو په لرلو سره سمبال ؤ، د هغه دښمن مخي ته ددي غيور او با شهامته ولس بچيان په ميړانه ودريدل چي لښكروتي د دوه جهاني جنګونو او د اكتوبر د انقلاب د لوبي كورني جګړي تجربي او ازميښتونه له ځان سره لرل.

دنياوالو په ډير حيرت او بي باوري سره دي جګړي ته كتل او ټولو به دا ويل چي افغانستان نور وجود نلري، لن دي او كه سبا د شوروي اتحاد د يو جمهوريت په توګه به ښكيل شي او د خائن او وطن پلورونكي كارغل د ټورونه، نور مقدس أرمان ! به تر سره كيږي .

خو لكه چي والي تقدير ته تدبير نشته، نو همداسي وشول، د وطن كورنيو او بهرنيو دښمنانو دا تدبير نيولي ؤه چي د ګران افغانستان د لياري به د شمال وحشي روسان د جنوب تودو اوبوته رسيږي ، او د سيمي ګاونډي هيوادونه به له ګواښ سره مخامخ كړي او د كمونيزم توره اولوغړه له ايډيالوژي به په دي منطقه كي خپروي .

ولي د خداي(ج) غوښتنه هغه څه وه چي وي كړل، د عصر لوي طاقت ني ددي هيواد د تش لاسو، خو مؤمنو مسلمانو خلكو په واسطه داسي په ګونډو كړ، چي تاريخي لوي شرم ني په برخه شو او د دوي په اصطلاح لوي شوروي اتحاد ټوټې ، ټوټې شو. هغه څه وشول چي تقدير وه . دا ټول د خداي«ج» په مرسته او ددي با ايمانه او پر تنګ ميتو افغانانو په واسطه تر سره شول .

«د دي مأمول د لاس ته راوړو په خاطر او د سرو وحشي لښكرو د خونړيو منګولو نه ددي وطن د بيا آزادولو لپاره د يو نيم مليون نه د زياتو افغانانو وينې توئي شو او د شهادت جامونه ني وڅكل (روحونه دي بي ښاد وي) ، د دوه مليونونه زيات معيوب، بي لاسونو او بي پښو شول، ځكه نو د وخت لوي او د دنياوالو په ګومان نه ماتيدونكي طاقت، مات شو او دا وطن ځي په ډيره بيړه داسي پريښود چي په لويښت، لويښت كي بي وسلي او د ميشونو، بمونو او نورو نظامي مهمانو نوټي او پرچي پرتي وي مات شوي نړيوال طاقت د خپلو لښكرو له وتلو وروسته، خپلو جاسوسانو او غلامانو ته په دي وطن كي ډير عصري ټانكونه توپونه، صحاريوي وسيلي او واسطي بم غورځونكي سو او ميګ ډوله الوتكي چي په ډير پر مخ تللي سيستم سمبالي وي پريښودلي، دښمن دا امكانات لرل چي د خپلو وتلو په وخت كي ټولي فعالي وسيلي او واسطي له ځان سره انتقال كړي د دوي د وتلو په وخت كي هم د دوي لاسپوڅي رژيم حاكم و مګر په دي ګومان چي په دي وسلو خپل غلام او اجير وساتي او د روس د بدنامي جاسوسي اداري(كا.جي.بي) د ټولو غړو مصئونيت په دي وطن كي تأمين وي او د روس آينده ګټي دلته خوندي پاتي شي، نو ځكه بي نوموړي جنګي وسايل او وسايط دلته پريښودل .

روسان د خپلو وتلو په وخت كي په دي معتقد ؤ چي كه د دوي اقتدار په افغانستان كي ددوي د دكړي په غوږ غلامانو د ساتي په خاطر ختم شي، نو هرو مرو به د دوي پټ مزدوران او دكاجي بي د څه دپاسه او يا كلونو سرمايه ګذاري شوي جاسوسان چي د مختلفو عنوانونو، نومونو او پردو لاندي پټ دي ، قدرت ته رسيږي هغه وخت به بيا دوي د افغانستان د خلكو او مومنو مسلمانو مجاهدينو په مقابل كي ددي وسلو او واسطو په زور د خپل ځان دفاع كوي او په غير مستقيمه توګه به د روس اهداف او اميال د نړۍ په دي ګوټ كي تر سره كوي. مګر بيا هم لكه څرنګه مو چي وويل تقدير ته تدبير نشته، د دوي دا تدبير هم په اوبو لاهو شو او هغه څه چي خداي«ج» غوښتل هغي وشول .

په دين او وطن مين طالبان د طالبانو په مقدس تحريك كي د عاليقدر اميرالمؤمنين ملا محمد عمر(مجاهد) پر شاوخوا راټول شول او د شر او فساد پر ضد ني مقدس جهاد پيل كړ .

نوربيا

د شريعت تبصره

زمونږ د ديني او ملي كلتور رغول د دولت او ملت ګډو هڅو ته اړه لري

كلتوري خپلواكي د يو هيواد ، ټولني حتى د يو فرد په ژوندانه كي د سلاتير حيثيت لري او بي له دي د خپلواكه ژوند د خوب تعبير ته انتظار ويستل هسي بي ځايه خبره ده يا په بل عبارت هره ټولنه او فرد چي كلتوري يا فرهنګي استقلال و نه لري هيڅكله نه شي كولي چي، سياسي، اقتصادي اجتماعي او ... استقلال تر لاسه كړي ځكه چي د انسان د وجود په نړۍ «ذهن» حكومت كوي د انسان د بدن خارجي او داخلي پاليسي ذهن ټاكي، د قوماندي واګي د ذهن په لاس كي دي، د بدن ټول غړي د ذهن تابع دي .

دا چي كمونستان ، خلقيان او پرچميان په خپل ټاټوبي كي د دومره عظيم او تاريخي جنايتونو ارتكاب ته چمتو شول، په خپلو كورونو بي د پرديو په اشاره ټانكونه او توپونه وچلول ، خپل مور او خور يي سر توره كړه، د هغوي د حيا او عزت لوپټه يي ځيري كړه، خپل ورونه او نږدي دوستان يي شهيدان كړل، لا مل يي همدا دي چي ددوي ذهن پردي وو د بل چا د نظريي او تيوري تر تاثير لاندي راغلي وو .

د تيرو څو لسيزو پيښو د ژوند د نورو اړخونو تر څنګ زمونږ په كلتور باندي هم ډيري ناوړي اغيزي وكړي حتى ويلاي شو چي دا دومره د ژوندلويي پانګي مو چي له لاسه وركړي سبب يي همدا دي چي زمونږ ځوان «كول» او ځوانه طبقه په خپل اصيل اسلامي او ملي فرهنګ نه وو روزل شوي زمونږ د هيواد والو د ذهني ترور لپاره له ډيري مودي را پديخوا پلانونه او دسيسي په كار اچول شويدي خو په څو نږدي لسيزوكي يي ډير شدت ومونند او داسي برنامي وړاندي كيدلي چي ظاهري ښكلا او زرق او برق به يي ډيرو د ځوانانو د ذهن د اغوا لپاره به يي مختلفي حيلي او وسيلي را منځته كولي نو زمونږ ځوانان چي متأسفانه د خپل ديني، اسلامي او ملي كلتور نه نا خبره وو او دا ملكي او نيك احساسات په دوي كي روزل شوي نه وو ډير ژر ددي سوسيالستي استعماري ځواك فكري او سياسي تاثير لاندي راغلل او له خپل كلتور نه پردي شول . دوي ته هغه څه د ترقي او تمدن د سمبول په توګه ورپيژندل شول چي هغه نظريه او فكر كاملاً له پرمختګ سره مخالفت لري او ددي په

حاي چي د مدنيت او پرمختګ په درشل قدم كيږدي دا ملت يي له بربادي سره مخ كړ دا هم د استعماري ځواكونو يو چال؟! وو چي سراب به يي زمونږه ځوانانو ته د رڼو اوبو چيني ور معرفي كړلي،او كله به چي دوي وريځي وليدلي چي د دوي خواته راروانې دي نو دوي به وويل « فكر كاوه» چي – هذا عارض ممطرنا – يعني دا وريځي ددي لپاره دي خواته راځي چي په مونږ باران واوروي، بلكه دا هغه څه ده چي تاسي يي غوښتلو نه بيړه درلوده پدي كي تند او تيز باد دي چي د خپل رب په حكم هر څه ورانوي» همدراز دوي به هم چي كله د تندي مانولو په نيت خيالي جنت ته ورغلل او د مسئلي حقيقت ته به ورسيدل نو د سراب په ليدلو به يي تنده نوره هم زياته شوه .

دا يوه طبيعي خبره ده چي د چا فكر او نظريه د كوم مكتب او تيوري تابع وي نو د هغه ټولي ارادي، سياسي، اقتصادي، اجتماعي حتى فردي ذوقيات او سليقي د هغه استعمار پيروئ ته چمتو كيږي چي زمونږ په هيواد كي هم همداسي وشول، زمونږ يو شمير پردي شويو او له اسلامي او ملي كلتور نه ناخبره ورونه او خويندي چي كله په اداري، سياسي او نظامي برخو كي واك ته ورسيدل نو د سره استعمار سيلاب ته يي لاره هواره كړه چي روان ناورين يي ثمره ده .

زمونږ د فكر، استعداد ، ذهن، ملي او شخصي شتمنيو په ګټون د ژوند يو اړخ يي هم بي زيانه پريښي ندي .

طالبان چي پخپله د يو علمي ، ديني ، روحاني او فكري محيط (مسجد او مدرسي) نه راپورته شوي دي سر او كار يي له كتاب او قلم سره دي او له خپل فرهنګ او كلتور سره له هر چا ډيره مينه لري نو همدا وجه ده چي د دوي په زعامت اسلامي دولت چي كلك هوډ لري تر څو ملت له دي رواني غميزي نه خلاص كړي دا هم خپله لويه ديني او ملي وجيبه بولي چي خپل ديني او ملي كلتور هم د پرديو له تاثيراتو نه وژغوري او د خپل ديني او ملي سوچه فرهنګ د ټينګښت لپاره زمينه برابره كړي چي د كلتوري حاكميت په ټينګولو سره خپل سياسي اقتصادي او ټولنيز حيثيت تر لاسه كړي، اسلامي دولت تصميم لري او عملاً يي هم په كار پيل كړيدي چي خپل ملت له خوبه را پاڅوي او د بربادي او وراني ټول عوامل يي ورته مشخص شي چي د مخنيوي لپاره يي چمتو واوسي نو د هغي سيمينار چي د اطلاعاتو او كلتور د وزارت په هاند او هڅو د كب په (۲٦ او ۲۷ مه)د يكشنبي او دوشنبي په ورځو كي د كابل په انټر كانټيننټل هوټل كي تر سره شو هدف همدا وو چي دي ديني ، ملي ا و عيني ضرورت ته توجه وشي . تر څو يو ځل بيا زمونږ ديني ثقافت او ملي كلتور خپل تقدس او اصالت لاس ته راوړي او د ټولني او وګړو په اذهانو كي خپل حاكميت تر لاسه كړي

دا له خپل ثقافت او كلتور سره د طالبانو د اسلامي تحريك او اسلامي دولت د ميني غټه بيلګه او مظهر ده چي په داسي حساسو او برخليك ټاكونكو شيبو كي چي اوس هم زمونږ د فرهنګ او عقيدي له دښمنانو سره چي غواړي د خپلو سياسي اهدافو او مقاصدو تر څنګ خپل ناوړه فرهنګ هم په مونږ تحميل كړي په تپل شويو او تحميلي جګړو بوخت دي د خپل كلتور او ثقافت د بيا رغوني لپاره سيمينارونه جوړوي ، مشاعري جوړوي، اديبان او ليكوالان راټولوي، موزيمونو ، آرشيف او تاريخي ابداتو د ساتني لپاره هلي ځلي كوي .

اسلامي دولت خو غواړي چي هغه مكلفيتونه، مسؤليتونه او وجايب چي يو مستحكم نظام او يشپړ دولت يي د خپل ملت په وړاندي لري تر سره كړي . خو دا هم بايد وويل شي چي زمونږ كلتور او ثقافت دومره زيانمن شويدي چي رغول يي دومره وړه او اسانه خبره نده او نه خو هم په يوازي ډول دولت، عالم، اديب، ليكوال او شاعر د دي په احيا كولو قادر كيدلي شي نو كه مونږ وغواړو چي خپل سوچه او اصيل فرهنګ بيا را ژوندي كړو نو دا د ملت د ټولو وګړو همغږئ ، ايثار او فداكارئ ته اړه لري او په ځانګړي ډول د علم او قلم خاوندان خو بايد په دي عظيمه پروسه كي رغنده رول ولوبوي يعني څومره چي اسلامي دولت پوري اړه لري نو اسلامي دولت خو خپل مسؤليت سرته رسوي او لګيا دي په دي هكله يي هر اړخيزي هلي ځلي پيل كړيدي نو اوس لازمه دا ده چي زمونږ فرهنګي ورونه او خارجي فرهنګيالي حلقي هم اسلامي دولت يوازي پريښيږدي او دا قافله ورسره بدرګه كړي چي ژر ژر خپل منزل ته وورسيږي .

خداي خبر چي نور به څه كيدل

ص.ع

د طالبانو د راتګ نه مخكي چي كوم وحشت زمونږ په اسلامي هيواد تير شو دردونكي وه . درباني د حكومت څلور كلني دوري نه كه ګرد كتنه وكړو ښايي چي دا راته جوته شي چي پدغه دوره كي د بل هر وخت نه زمونږ مسلمان ملت د زياتو كړاوونو سره لاس او ګريوان شو د اسلام د نوم لاندي هغه څه وشول چي هيڅ با احساسه انسان ته د منلو وړنه وه . انساني كرامات تر پښو لاندي شول، لوټماري او غلا خپل اوج ته ورسيده په هيواد كي مطلقه انارشي حاكمه شوه ملي شتمني لوټ شوي، ځانځاني حكومتونه جوړ شول، خپلسر يو او جبر د خلكو د ژوند چاري مختل كړي، ځاي ځاي باجونه اخيستل كيده اصلاً په افغانستان كي ژوند خپله معنى د لاسه وركړيوه . د قوماندانانو خپلمنځيو شخړو او تنظيمي كشمكش هيواد په كنډواله بدل كړ په زرګونو ددي هيواد بچي ني د خپل قدرت د هوس قرباني كړل عباشي بي بندو باري فسق فجور خپل صعودي منزل د پاي هځي كولي د څواركي ملت څوار وګړي د نجات د ساحل پسي لا لهانده او سر ګردانه ګرځيدل .

يوه عجيبه غميزه وه يو لوي ماتم وه . اداره فاسده شوه هر وزير هر رئيس د خپلو شيطاني خواهشاتو ښكار شول ددي هيواد د ملي ، تاريخي او كلتوري اثار هم زيات زيانمن شول د تير فاسد حكومت په وخت كي چي زمونږ تاريخي اثارو كومه صدمه ليدلي په تاريخ كي ساري نه لري ټول ملي او كلتوري اثار يا خو په بهرنيانو خرڅ شول او يا هم تخريب شول تاريخي اثار چي د يو ملت د عظمت ، ميړاني او شجاعت ښكارندوي دي باغي مجاهد نماو د يو سر نه نيست او نابود كړل .

هر ملت خپل ځانته دود او دستور لري د خپلو نيكو او پخوانيو زمانو يادګارونه ورته پاتي دي خو زمونږ د مسلمان او اتل ملت اسلامي هيواد پنځه زره كلن تاريخ يي مثاله ده ددي اسلامي هيواد ملي او لرغوني اثار هم د نړۍ په مخ بيلګه نه لري خو له بده مرغه چي پت فروشانو او مفسدو سيمه ييزو حاكمانو دغه د پلار او نيكه ژوندي تاريخ ورك كړ . كله چي د موزيمونو تاريخي، ملي او كلتوري ښكاره اثار ختم شول نو منطقوي حاكمانو د ځمكي تل ته پيل وكړ او هغه قديمي اثار چي لا نه وه كشف شوي د بهر نه ني نقشي او فني انجنيران د سازشونو په نتيجه كي راوغوښتل تر څو د ځمكي زړه ځيري كړي او د هغه جنايت مرتكب شي چي هيڅ د بخښني وړ نه دي چي ژوندي نمونه يي د بت خاك ، سروبي د جاني غونډي د سرچينو د چهل ګزي د تاريخي اثارو راويستل دي چي په رښتيا هم ډيره دردونكي حادثه وه هغه داسي چي ځلوروم مخ

د ادب مرغلري

ستر افغان

عبدالرحمن «هوتکي» د
افسوتر رئيس

خوښ مي نه دي د بل شمع ته کښيناستل خپل — نه په وازګسو د بل چاځسان چاغلول خپل
که شپه هر څومره تياره شي لارموندي شم — اورچينجي يم خوښ مي دي څراغ لګول خپل
په بهانه د چاپو نه څيښم خولي زه — زما خوښ د ګرمو او بګودي څپيل خپل
پر ستر خوان دي پلاو نه خورمه رقيبه — په شلومبي کښي مي سورسک خوښ وړول خپل
چه همت مي ټيټ له تيښو سره نشي — ځکه خوښ مي دنګو غرونه دي ختل خپل
ډار مي نکړي شوخي سترګي ستا له سترګو — عيب بولم ستا و خواته تش کتل خپل
لا يې نه دي تجربې د قربانو دي — په ميراث مي دي د توري بريښول خپل
د سپوږمۍ د هسکلي غاړي وښائست ته — ما زده کړي دي هارونه اچول خپل
پر ډيلي فارس بخارا مي برجلونه — لا يخوا دي ښه زده کړي جوړول خپل
د ړندو نيکه راويښ شه لر، له خوبه — ځنځيرونه مو شلولي په تکل خپل
چه را ټيټ دي د غرور مغرور سر نکړم — ما بيا کله ستر افغان ځان ته ويل خپل

چه په ننګ دي پر مرچلو درخشم زه
«هوتکي» په ښکلي شعر کښي ښه ليکل خپل

۱۳۷۵/۱۱/۹

گل وطنه!

حافظ

راپيدا مو په سرو کي نوي شوردي
نوي مينه نوي وينه کي مستي کړي
نوي فکر نوي ذکر دي چي کبري
نوي ګل نوي بلبل نوي چمن شو
په ګلشن کي نوي نوي ترانې دي
بيا په نوي رنګ ګلونه غوړيدلي
هره خواکي نوانوي پورته کيږي
د مجنون زړه کيږه په خشميدو ده
نوي ليلى د نوي کاروان نوي ځاروان دي
د اسلام ښکلي متاع وربانديي بار ده
موږ له مخي ځاروانان ددي کاروان يو
رسوو به دا کاروان د منزل لور ته
راسره د خداي نصرت د لاري مل دي
اي وطنه! ستا له کاڼو لوټو ځار شم
ګران وطنه! موږه ستا په لمن شته يو
په څپک څپک د ستا ورکوو سر موږ
موږ سرونه ستا له سره ځارووخپل
زموږ لاس کي د اسلام توره ټوپک دي
د وطن ناموس به ساتو په سرونو
د وطن له شهيدانو نه رنګ اخلو
«طالبان» وطنه! ستا د ازادۍ يو

راويښ شوي مو په زړوکي نوي زوردي
محبت مو پر بل باندي چستي کړي
نوي سوز او نوي ساز را څرګنديږي
جوړ په نوي رنګ کي نوي انجمن شو
د بلبلو په خوله نوي اناني دي
ورسره زموږ زړونه غوړيدلي
له محمله ليلا نوي کښته کيږي
افسانه د نوي ژوند په جوړيدو ده
پوره شوي مو د زړو نوي ارمان دي
هم پرته زموږ په مخکي ښکلي لار ده
بيرته نه ګرځو په وړاندي ځوروان يو
دا دنيا به کړو حيرانه درب زور ته
په بري مو چي په هره خوا يرغل دي
په يو وار نه په سل وار نه په زر وار شم
که نه يې موږ به يو هم چيري نه يو
ورکوو ستا هر دښمن ته دا خبر موږ
موږ ځانونه ستا په لاره خوارووخپل
زموږ کړي هوډ پولادونه هم کلک دي
يو بچي د غيرتونو او ننګونو
د نيکونو او پلرونو نه ننګ اخلو
ګران وطنه! موږ ښاد ستا په ښادي يو

ګل وطنه ! مبارك دي دا بهار شه
هره خوادي جوړ د سرو ګلو بازار شه

د تکبيرو په ځوکو

د حنيفي ، حقيار، نثار او
مولوي زرمتي په اقتفا

وفايار

ځان به هدف نه رسوم د سرو اورو په ځوکو
که پټيږي مي پري شي د ځنګلو د سرو په ځوکو
دا دي د فتحي بيرغونه مي رپيږي هر ځاي
د ګران هيواد د دښت دامان او سرډرو په ځوکو
که مي ټټر غلبيل غلبيل په مرډکو باندي شي
خير دي ، افغان ژوند نکوي د پيغورو په ځوکو
ماشيطاني لښکر د پاك خداي(ج) په نصرت مات کړي
غږيږي د حق لاري تر آسمان د تکبيرو په ځوکو
رقيبه ستا مخ به شي تور وروته مي مه لمسوه
يوه ورځ به جوړ شي افغانان د تخرو په ځوکو
نوي سپرلي دي، نوي ژوند دي سوله ايزه فضا
خو د به يي ستاينه په مينه د شعرو په ځوکو
د زړه دردونو، فريادونو مي سکون مونډلي
ختنا مي ګرزي د خوښي د پرهرو په ځوکو
اصيل بچيان به دي بيا جوړ کړي لکه وي چي کله
کړي مزدورانو لوټي لوټي د نخرو په ځوکو
غلبيه سوزي نږدي مه راځه سپرغي بکي دي
«وفايار» وايي ډير ډير سوي دليرو په ځوکو

په هما به ني ليکم

عبداللطيف «نثار»

عيان نه څه بيان دي په زړا به ني ليکم
وطن مو ټول وران شوي خامخا به ني ليکم
شهيد نه به ناري کړم بيا د کونډي پلو تبسم
دښمن به يې رسوا کړم ناروا به ني ليکم
دا څه را باندي وشول هغه څه ډول انصاف ؤ
چه خرځ ئي شهيدان کړل هاشورا به ني ليکم
معيوب کسان مو ډير دي د وطن په قرباني کښي
له ګډ نه هسا ظلم په هسا به ني ليکم
ملګري د ملحدو شول له حق سره جنګيږي
ملت ټول پيژندلي خو نن بيا به ني ليکم
جهاد به تل روان وي د الحاد په مقابل کي
سنګر کښي طالبان شته تل غزا به ني ليکم
په چل ول نه تير وکي د المسيان د ابدالي دي
په لار د غزنوي ځي په رښتيا به ني ليکم
«نثار» چه د غم شپي دي لا يسي اوږديږي
نور بس کړه نيمه شپه شوه خو بيا به ني ليکم

اباسين ته

د محترمي خور صفيه «صديقي» په اقتفا

قاضي محمد حسن «حقيار»

ديهي مسري تنتجي شه اباسينه که مي وړي
يو څو مستي نغمي شه اباسينه که مي وړي
دا ستا د … زيا شور مي خوروي نه شي له ځايه
د ميني اند ښيني شه اباسينه که مي وړي
سرکش ستدرونه مي ځاي کړي په کچکول کي
زمزم زمزم د هاجري شه اباسينه که مي وړي
غرور د پرښانيو مي ښکل شوټهي د اسمان کړي
واسره د بې اسري شه اباسينه که مي وړي
راکش کړه تابونه چي خواره واره را يو شي
تعبير د «اوبني» شه اباسينه که مي وړي
بهير د تلوسو نه مي تسپي د سکون راکړه
د اوښکو څو قطري شه اباسينه که مي وړي
پيدا دي يه څپو کي کړه څپاند سپهرين شور
په ليکه د «صفيي» شه اباسينه که مي وړي
تکرار کړه زړه تاريخ د نوح طوفان شه هر ظالم ته
اثر نه وړ پرتي شه اباسينه که مي وړي
سرخي کړه را پيدا خزان وهليو انګو کي
بهر له ښکلي شه اباسينه که مي وړي
که ستا يه مخ «حقيار» نه د وصال لاري کړي خلاصي
زاري ګيلي ګيلي شه اباسينه که مي وړي

ورورولي

حنيفه «زاهد» «شاه جويي»

دا وران وطن ودان کړي په خدمت د ورورولي
لاسونه سره ورکړي په نيه ثبت د ورورولي
چه خواريي کړو تر خوارو د ابلادګانګاني وه
نجات ورګني موږ په نهضت د ورورولي
کاروان د هغه قام ده و هدف ته رسيدلي
چه جوړيږي يخپلو کي صحبت د ورورولي
چه مات يې د نړي متجاوز کړ هغه خوك وه
افغان و چه ساتلي يي عادت د ورورولي
بيا ځکه مو په ژوند باندي پرديولي وکړي
چه ورموکړ له لاسه خپل قوت د ورورولي
يو نسل د افغان يو، يو موږ بين يوه عقيده ده
بياولي مو بايللي دي رغبت د ورورولي
لاس ټينګ کړي حبل الله پوري قومونو ملتونو
دا لاره ده غښتلي په صفت د ورورولي
د مکر او فريبونو په انجام او ثمر څه وي
روښانه مو کړي زړه په صداقت د ورورولي
«زاهد» لاس په دعا ده د باري ژ لوي دربار ته
خوشحاله مو اولس کړي په وحدت د ورورولي

بهاريه

محمد آصف «رموز»

باتيز رفت و زمزمه، نو بهار شد
فصل بهار خرمي آمد به طرف ما
باران وقت بلبل رسيد است بهر مان
اي نخل آرزو پسر زاده، وطن
آمد بهارو سبزه دميد غنچه ها شګفت
در ملك ما که ظلم و ستم بود رخت بست
هر سر روان شر شر آبست و جويبار
آسوده ګشته کوچه و بازار فساد ګم
اي محب وطن بيا جوش و هم خروش
پروانه زنده شد شهيدو مکيد ګل
ساقي بذکر فقر بيار ناب خوشګوار
اوج ظفر نصيب کسانيست که وي بحق
ما را رضاي حق به آنست و هم آبان
اميد مان بهار نو است در فضاي صلح

لري شګفت و بهر زراعت عيار شد
شاديم از آنکه دشمن و خاين فرار شد
حب الوطن بخاك و دوش سهم دار شد
کمر ببند بخدمت و خلق انتظار شد
مندعي چمن کشود پرو نغمه سار شد
مضمون ګشت ز شر، وطن پر نوار شد
سرورو ملح حيات پزبري نګار شد
يمني ز طالب است که مردم قرار شد
بين هر کسي به شغل خودش عهده دار شد
زان رو که دشت و کوه و دمن لاله زار شد
جامم بده که قلب عقيم خمار شد
وحدت پديد کرد و وجودش نثار شد
کين لطف و مرحمت ز در کردګار شد
توميديها ګذشت و اميد روي کار شد

چند سطر خوش سرود «رموز» بهر نو بهار
در شير شکر فزود سخنش آبدار شد

پليګون د ورکو شهيدانو د ياد ګارونو ځلي

محمد عزيز

حه مي کړي واي د سره وحشت د سرو ليوانو بې ضميرو او ملحدانو په پنجو کي راګير وم . د ظلمت توري وريځي را باندي خوري وي، دنيا راباندي توره تياره وه . د اسلام او هيواد دښمنانو په خپلو قدمونو پايمال کړي وم . دلته يې هغه څه تر سره کړل چي انساني کرامت او بشري عواطف يې په اوريدلو لړزيږي . ريز ريزيي کړم . د ټانګونو د چينو غوبل يې زما زړه ځيري کړ چاته به مي فرياد کړي واي؟ زما اواز به چا اوريدلي واي ؟

هو زه ډيره بد مرغه يم ځکه مور خپلو بچيانو ته مينه ورکوي د ترحم او شفقت وزري پري غوړوي له محبت او ميني نه ډکي سيني ته يې را جوختوي خو زما بدمرغه لالهانده غيږه د خپلو مسلمانو بچيانو قتلګاه جوړه شوه . د چا قتلګاه ! د هغه چا چي په خپل هيواد کي يې د اسلامي نظام د نفاذ او د طاغوتي نظام په له منځه وړلو پسي متي را بډ وهلي وي هو ! دوي په خپله سپيڅلي خاوري کي د تا پاکو قدمونو د ليدلو توان نه درلود . دوي د عظيم الشان قرآن توهين نه شو منلي .

د تورو شپو په چپه چوپتيا کي د مظلوم خوږيمن مسلمان زګيرويو د تکبيرونو ملکوتي انګازو په فضا کي يوه نا آرامه شور جوړ کړي وو، ددي حالت په ليدلو د ملايکو معصوم احساس وترهيده، ستورو او سپوږمۍ د غم اوښکي توېولي ګوروتکي او غمجني پيښي وي خو ما په ډېره سپين سترګي دا هر څه ليدل .

نه نه سهوه شوم . زه بد مرغه نه نيکمرغه يم ځکه چي با ايمانه، صالح ، مخلص، سرښندونکي فداکاره او د وطن په درد دردمند مظلوم بچيان مي غيږي کي را ټول شوي دي .

هي افسوس زه پليګون يم !

کوم پليګون ؟ ورک پليګون په ورکو لاروکي، راشي چي حال درته ووايم . د زولنو حال ، د شکنجو حال ، د تعذيبونو حال ، د زنځيرونو حال د هتکړيو حال ، زما په سينه کي د سرو لښکرو او د هغوي د ګوډاګيانو غمونکي داستان پروت دي د هغو شپو داستان چي په سلګونو بيګناه او مظلوم مسلمانان بې د ژوندي خښولو لپاره زما لمنو ته راوستل ، څه د حسرت شپې وي . د وير ، غم او ژړا وخت و .

خو نه پوهيږم چي ولي ؟ دواړو خواو خندل ! هو وحشي کمونستان او د پرديو لاسپوڅي د شرابو په نشه کي ډوب و، خوښ و چي خپل بادار ته غټ خدمت کوي . خو د حقي لاري شهيدانو ته به د ابدي ژوند ملګرو (د جنت حورو) ځان ورښودلي وي . د خپل خالق سره په خپلي ژمني په وفا به خوښ و . د خداي د ديدن نوراني جلوي به يې ليدلي دي .

په انساني سينو د مرمو غلبيل جوړ شو . اسمان ژړل، کائنات دغه فاجعي ته شرميدل او په کمونستانو يې د لعنت باران جوړ کړي و . دا انساني فاجعه وه ستره فاجعه . نه هېريدونکي او تلپاتي فاجعه .

زه پليګون يم !

آه خدايه ! دا څومره هيښناکي شپې وي چه ما تيري شوي. زه دي په کوم امتحان کي راګير کړي وم

اي د غيرتي خاوري زامنو راشي او زما د زړه حال واوري . ما ويوښتي، زه قتلګاه يم، د انسان په جامه کي د فرښتو مقتل زما په زړه کي د زرګونو انسانانو مړي ژوندي وينه پټه شويده .سره وينه، د وياړ نه ډکه وينه . اي ګرانه طالبه چي تاته يې ستا د حقي لاري په مخ کي خټي فولادي ديوالونه تنکور کړل . د خاورو لاندي ستاسي زامن . ستاسي پلرونه، ستاسي ورونه، ستاسي راتلو ته انتظار باسي .

تور مي مه هيروي . زه د شازلمو مزار، عظيم مشهد . شکلي او ښايسته د شهيدانو هديره يم . دلته زما په غيږ کي د کونډو ښکلي ميړه . د کوچني يتيم پلار، د بوري مور زوي، د وراري خور ورور په اوږده خوب پراته دي .

هو! ځني به يې مړه بولي خو دوي مړه نه وي دوي ته تلپاتي نيکمرغه ژوند ور په برخه شوي دي .

پرون مانه خلکو په کرکه کتل دا ځکه چي د پرديو او غلامانو پل را باندي ايښودل کيده خو نن اي طالبه اي د حماسو وارثه . اي د وياړنو سمبول او شجاعت نښي ، اي د جهاد اتله راشه او ما وګوره زه د شهيدانو ورونو مزارونه ورکو شهيدانو ته يادګارونو ځلي جوړ کړه شهيدانو مشهد چه زما تر څنګ د ځرځي

په جهنمي زندان کي د ډيرو وهلو ، ټکولو ، تعذيب او شکنجو وروسته به دلته د شهادت او د خپل رب سره د وصال لپاره راوستل کيدل ، هغه شهيدان چي پرديو او د الحاد لاسپوڅو به د خپلو شومو هدفونو او خوشخدمتي لپاره ډله ډله ژوندي د خاورو لاندي کول خو دوي ته به خندل

هو! ما هم د پاتورو مجاهدو شازلميانو ککړی درته امانت ساتلي دي . ددي لپاره چي د اسلامي فکر او مبارزي او د اسلامي انقلاب د وارثانو وينه يې په ليدلو په جوش راشي او لا ځپانده شي .

زه پليګون يم !

اوس اي مجاهد او قهرمان طالبه راشه او ډير ډير راشه، د شهيدانو د وينو ګڼهالبه زما ارمان هم پوره کړه . په ټپونو مي ملهم کيږده ، زړه مي ټکور کړه . يوازي زما پوښتنه مه کوه د خپلو ژوندو خپلو شويو ورونو د مظلوميت پوښتنه وکړه چي څه پري تير شويدي قاتلان يې اسلامي محکمي ته کش کړه . د حال په ژبه د ماضي پوښتنه وکړه . ډيرو د اسلامي انقلاب مدعيانو!! هير کړي يم خو تا ته مي د اميد سترګي ډيري اوړي ته مي مه هيروه، چي د هيريدلو وړ نه يم . ډيري خواري سپيري او د ذلت ستومانه شپې مي تري کړي . ډير وکړيدم او د خپلو اصيلو بچيانو په درد ډير دردمن شوي يم .

ډيره نا اميدي راتلله فکر مي کاوه چي زه به بې کسه يم خو زه بې کسه نه وم زما زامنو زما د نجات لپاره په ځان شپه او ورځ يوه کړي وه . ډير مي ژړلي دي له دېنه زيات د ژړا وس نلرم .

تو اي طالبه !

راشه او خپله انساني او اسلامي وظيفه تر سره کړه ، خپل رسالت پوره کړه زړه مي وسپړه، ټپونه مي جکل کړه . سترګي مي وچي کړه . څيري ګريوان مي وتړه . خپل امانت خوندي کړه، ما خو کلونه کلونه درته ساتلي وه راشه او په سپينه وياړمنه جنډه ما هم وياړمن کړه په دي عظيم مشهد ، د شهيدانو په ټاټوبي او تاريخي وياړمن ځاي باندي د عظمتونو ځلي ودروه .

په هيوادکي د تير کال سياسي او پوځي پيښو ته يوه کتنه

غالب

د ۱۳۷۵ هـ ش کال د پيل په لومړي ورځ په کابل کي د طالبانو او د رباني ائتلافي اداري تر منځ د جګړي په ليکو کي خال خال ډزي اوريدل کيدلي او په دغه ورځو کي داسي اوازي هم وي چي حزب اسلامي د رباني د ائتلافي اداري سره يو ځاي شويدي، خو خبره په ډاګه نه وه او حکمتيار په خپلو مرکوکي د رباني له اداري سره د ائتلاف نه انکار کاوه . خو په پټه يې له رباني سره خبره غوټه کړي وه دا چي د رباني سره له ائتلاف څخه د حکمتيار اهداف څه و دا هر چاته معلومه وه دا ځکه چي حکمتيار د طالبانو د اسلامي تحريک په وړاندي د جګړي د مقاومت توان بېخي له لاسه ورکړي و او په يوازي يې خپل ځان هم نه شو ساتلي او له بل پلوه رباني هم نه شو کولاي چي د طالبانو په وړاندي جګړي ته دوام ورکړي نو ځکه يې د حکمتيار سره ائتلاف غوره وګاڼه تر څو په ګډه په طالبانو باندي يوه لويه حمله وکړي او کله چي طالبان له پښو وغورزيدل نو بيا د حکمتيار کار ورته آسانه ښکاريده نو په دغه ډول په ائتلاف کي هم حکمتيار او هم رباني خپلي خپلي ګټي ليدلي. ددي په څنګ کي د ملګرو ملتونو د سرمنشي خاص استازي محمود مستيري په خپلو سياسي هلو ځلو کي زيات ستومانه او ستړي ښکاريده او هغه په خپلو سياسي هلو ځلو کي يوه ګټه وکړه هغه دا چي د سولي په ځاي يې جګړه په دوامدار ډول وساتلي شوه او د هغه د ډېري ستوماتيا له امله د ملګرو ملتونو سرمنشي بطروس بطروس غالي په دي وتوانيده چي د افغانستان په چارو کي د المان يو تکړه ديپلومات ډاکټر ناربرت هول د خپل خاص استازي په توګه وټاکي . خو ډاکټر ناربرت هول په افغانستان کي د خپل ماموريت په باب په خپلو لومړيو خبرو کي دا خبره وکړه چي هغه هم د افغانستان د مسألي د حل له پاره کومه خاصه طرحه نه لري او په دغه ډول ځرګندولو سره دا په ډاګه شوه چي ډاکټر ناربرت هول هم د محمود مستيري په ډول د افغانستان مسأله په خپله د افغانانو په لاره وراچوي او په خپله د افغانستان د مسألي په حل کي د خاص او غوځ صلاحيت څښتن نه دي د ناربرت هول د سياسي هلو ځلو په پيل سره په کابل کي جګړه يوي نوي مرحلي ته ورسيده دا ځکه چي حکمتيار او د رباني ائتلاف د کابل له پاره د لا ډېري سختي جګړي خطر را منځته کړ په کابل کي د رباني د ائتلاف او طالبانو د ځواکونو تر منځ کله درنه او کله سپکه جګړه روانه وه او خلکو د جګړي د دوام له امله ډېري سختي شپي او ورځي تېرولي د رباني ائتلاف نش د قدرت د انتقال په نامه خپل هيأتونه د امريکا متحده ايالتونو ، روسيي او نورو هيوادونو ته لېږل تر څو ظاهراً خلکو ته وښيي چي د قدرت د انحصار پلوي نه دي او په دغه پلمه يې د خپلي بقا له پاره لاري چاري لټولي، خو د رباني د هر ډول تلاشونو سره سره بيا هم طالبانو د افغانستان د مسألي حل د رباني په ګوښه کيدوکي ليده او په خپله دغه غوښتنه يې کلک ټينګار کاوه . هند ، ايران او فدراتيفي روسي کوښښ کاوه چي د رباني حکومت ته يوه قانوني بڼه ورکړي او په دغه ډول خپلي سياسي او ستراتيژيکي ناروا ګټي د هغه په وجود کي وساتي . د افغانستان د مسألي د حل په باب په اسلاماباد ، تهران او مسکو کي هم وخت ناوخته غونډي کيدلي او د افغانستان د مسألي د حل له پاره يې مختلفي نظر يې وړاندي کولي او هم په دغه برخه کي د هيواد په دننه او بهر کي افغاني شخصيتونو هم غونډي او سيميناورنه جوړول او آن دا چي په بهر کي ګڼينو افغانانو خپل اواز د مظاهرو په ترڅ کي ملګرو ملتونو او امريکا ته وړاندي کاوه د افغانستان په چارو کي د ملګرو ملتونو خاص استازي ناربرت هول هم خپل سياسي فعاليت نه په پرله پسي ډول دوام ورکړ، خو هغه ونه شو کړاي چي افغانان په يوه واحده طرحه باندي جوړ کړي او په دغه ډول يې ډېر وخت د افغانستان په فضا کي په الوتکه کي تير شو او هغه هېلي چي د افغانستان خلکو له ناربرت هول نه دراودلي له ستي او ځنو سره مخامخ شوي بهرني لاس وهني د افغانستان سياسي حل کي دومره زياتي شوي چي هم يې په خپله له افغانانو څخه د سولي د منځته راتللو صلاحيت واخيست او هم يې د ناربرت هول سياسي پرستيژ ته سخت ضرر ورساوه په دي ډول د يو معقول او عملي حل سباوون روښانه نه ښکاريده تر څو دغه کرکيچ ته د حل لاره وباسي په دي ترڅ کي نو د افغانستان د طالبانو اسلامي تحريک د خپل قاطع او نوي تصميم له مخي خپلو فتوحاتو ته دوام ورکړ د خوست او پکتيا ولايتونو له فتحي او تصفيي وروسته يې د جلال اباد د نيولو پلان تر لاس لاندي ونيوه او د خپل ټاکلي پلان له مخي د ۱۳۷۵ هـ ش کال د سنبلي د مياشتي په ۲۱ نيټه د جلال اباد ښار ته طالبان ورننوتل او په ډېر لږ وخت کي يې د ټول جلال اباد او د شاوخوا ولسواليو کنترول او اداره په خپل لاس کي واخيسته . د کابل د ائتلافي اداري پښې د پوځي وسايطو، مهماتو او پيسو سره سره بيا هم ورځ په ورځ سستيدلي او ددي له پاره چي له کابل څخه کلکه دفاع وکړي نو په سروبي کي يې کلکي دفاعي کرښي جوړي کړي او په خپل فکريي دغه کرښي نه ماتيدونکي وګڼلي خو د افغانستان د اسلامي تحريک طالبانو د کونړ او لغمان د ولايتونو له فتحي وروسته د کابل په لور مخه وکړه او د خپل ټاکلي پروګرام له مخي يې ۱۳۷۵ هـ ش کال د تلي د مياشتي په دريمه د چهارشنبي په شپه يې په سروبي حمله وکړه او په ډېره چټکي سره يې د خپلو مخالفينو دفاعي کرښي يو په بل پسي ماتي کړي د کابل د ائتلافي اداري ځواکونو د طالبانو په وړاندي مقاومت ونه شو کړلي او د جګړي په ځاي يې د تيښتي لاره خپله کړه . طالبانو د ائتلافي اداري قواوي تعقيب کړلي او په دي وتوانيدل چي د ۱۳۷۵ هـ ش کال د تلي د مياشتي په ٦ نيټه کابل په بشپړ ډول فتحه کړي او شرعي قانون په کي نافذ کړي(الحمد لله ثم الحمد لله)او د کابل فتحه د افغانستان د اسلامي تحريک د طالبانو له پاره د پوځي او سياسي پرستيژ ستره فتحه وشميرل شوه او د کابل د فتحي له امله د افغانستان د نوي اسلامي دولت په وړاندي د فدراتيفي روسيي ايران او د منځني اسيا د هيوادونو ويره زياته شو او د طالبانو په وړاندي يې يو لړ سياسي او پوځي تدبيرونه ونيول او په دغه تدبيرونو کي يې د خنجانو ناکامه دفاعي شورا جوړه کړه چي هغه هم له منځه لاړه او د ماتي سره مخامخ شوه که چيرته موږ د ۱۳۷۵ هـ ش کال د طالبانو د فتوحاتو کال وګڼو نو ډېر مناسبه خبره به وي ، خو ددي په څنګ کي د افغانستان په خلکو او په خاص ډول د کابل په اوسيدونکو باندي که تير کال له اقتصادي ستونزو څخه ډک کال وګڼو دا هم په ځاي خبره ده، خو بيا هم د افغانستان خلکو د سولي د راتللو او له جګړي نه د خلاصيدو په هيله خپلو هر ډول اقتصادي ستونزو ته اوږه ورکړي ده او په دي هيله دي چي نوي ۱۳۷٦ هـ ش کال به د لوي خداي(ج) په مرسته او مهرباني د افغانستان د اسلامي دولت له پاره د سولي او ورورۍ کال شي او د افغانستان ټول ورونه مليتونه ، قومونه او قبايل به خپله خوښه په خپل ګران هيواد کي د سولي او ورورۍ تيکه په داسي ځاي کي کيږدي چي په رښتينه توګه د تل له پاره سوله او ورورولي ټينګه وساتي .

و من الله التوفيق

د اسلامي افغانستان د فرهنګ او ...

ظالمانو او ملحدینو له شر او فساد نه زموږ د هیواد زیاته برخه پاکه کړه .

عزتمنو وروڼو دا د خوښي او شکر ځاي دي چي الله تعالی ددي خبري لپاره فرصت راکړ چي سره راغونډ شو او د خپل وران ویجاړ هیواد او زښته ډېر زیانمن شوي فرهنګ په وړ باندي خواشیني ښکاره کړو ، د هغه د بیا رغاوني په لور هاند او هڅي وکړو او په لارو چارو بي غور وکړو .

ګرانو هیواد والو او درنو حاضرینو!

د افغانستان له اسلامي دولت سره ددي خبري ډېر زړه لړزوونکي احساس موجود دي چي زموږ په لکونو ګران هیواد وال په نورو هیوادونو او یا په خپل هیواد کي په سوګوونکو سپېرو دښتوکي په شکیدلیو خیمو او تنګو تیاره کو ډلیو کي د مهاجرت د لوږي ، تندي ، ناروغیو او مصیبتونو شپي له وچه ناکامه سبا کوي ، نه یي هغلته د ژوند وسیلي شته دي او نه یي په هیواد کي خپله ټاټوبي او جونګړه ودانه پاتي ده چي ورته راشي ، له لمر ، باد او باران څخه سرپکښي پنا کړي د هیواد ریښتیني زامن تنکي طالبان او میړني مجاهدین په هیواد کي د اسلامي شریعت د نافذولو تر څنګ دا خبره هم په پام کي لري چي د خپل سر په بیه خپلو مسافرو او کډولو هیوادوالو ته په خپل ټاټوبي کي د امن او سوکالي زمینه برابره کړي .

د افغانستان اسلامي دولت سره دا غم او درد تل ملګري دي چي د هیواد د ملي اقتصاد د ملاتیر کرهڼه او مالداري ده مګر له بده مرغه نه زموږ بزګر ته تخم او د کرکیلي نور آلات ورپاتي دي او نه هم زموږ مالدار ته څه ورپاتي دي چي مالداري ته وده ورکړي .

د افغانستان اسلامي دولت دغه ناورین لا نور هم پسي ګوروي چي موږ او تاسي خو دلته د خپل ویجاړ او زیان وهلي اسلامي فرهنګ د بیا رغوني د هڅو لپاره سره راغونډ شوي یو او لاري چاري ورته لټوو خو په تأسف سره ویلو چي زموږ علمي کادرونه ، پوهان متخصصین او د اسلامي فرهنګ مینه وال د کور کهول د نفقي پیدا کولو لپاره پاخوله هیواد نه بهر د پردیو چوپړي وهي او یا د هیواد په لارو کوڅو کي د پیازو ، پتاټو او نورو شیانو د کراچي شانه په سپېرو لاسونو ولاړ وي ، د دولتي کارمندانو هم دغسي حال دي چي خپله تنخواه یي نه بس کیږي او له رسمي وخت نه وروسته مزدوري کوي !

د سوال کوونکو خوینډو ، تنجونو او هلکانو خو بیخي حد نشته دي ، داسي ډېري د ناورین کیسي دي چي کافر او فاسدو رژیمونو دغه نومیالي او تنګیالي ولس ته په میراث پري ایښي دي .

محترمو وروڼو ! د ټولا خبره دا ده چي : حلاله روزي پیدا کول او زیار ایستل د یوه مسلمان لپاره د شرم او ذلت خبره نه ، بلکي د دین له پلوه هم وياړدي چي د یوه حدیث مبارك مضمون دي : « هیچا له هغه کس نه ښه روزي نه ده خوړلي چي د خپل لاس په زیار یي ګټلي وي » او د دنیا سر لوړي هم ده ځکه چي د یوه افغان مسلمان غیرت دانه شي منلاي چي لوږي او د ژوند نورو کړاوونو ته لاس ترزني کښیني او په بي غیرتي سره دي ځان ورته تسلیم کړي .

عزتمنو وروڼو ! زموږ او تاسي د وران هیواد او تباه شوي فرهنګ د بیا رغوني د هڅو په لړ کي هرو مرو له ستونځو سره مخ یو په دغه بهیر کي به دا څو ټکي په پام کي کلك ساتو :

لومړي دا چي : هر څه به د الله تعالی د رضا لپاره کوو .

دوم دا چي : په هر کار کي به یوازي په الله تعالی بروسه او تکیه کوو او یوازي به له هغه جل جلاله نه مرسته غواړو .

دریم دا چي : د شرعي نظام په نافذولو کي به د چا د خبرو خبګان او خوشحالي پروا نه کوو .

څلورم دا چي : زموږ دولت او ولس به یو په بل نیك ګومان ، اعتماد او پیرزوینه کوو .

اسلامي دولت وعده ورکوي چي : د پخوانیو رژیمونو غونډي به د چوکیو ، رتبو ، ځان چاغولو ، پیسو غونډولو ، بیت المال لوټولو او مزو چړچو په لټه کي نه اوسیږو ، یوازي د خپلو خلکو د هوسايني ، د دنیا او خرت دښیګنو او نیکمرغیو هڅي به کوو ؛ ددي خبري ښکاره ثبوت دا دي چي د اوسنیو تشکیلاتو په تنقیص کي ډېرو وزیرانو او معینانو ریاستونو ته د چوکیو تنزیل ډېر په ورین تندي ومانه او د «کرشان» هیڅ شیطاني وسواس یي زړونو ته لاره پیدا نه کړه ، همدانګه د اسلامي دولت د رجالو کمیټي ، ساده کرکتر او له خپلو هیواد والو سره ورین تندي تاسي په خپله وینۍ .

د افغانستان اسلامي دولت غواړي له ستاسي نه هم تعهد واخلي چي د هیواد ، دولت ، حکومت د شرعي قوانینو رعایت ، د بیت المال ساتنه په اخلاص سره د ملت خدمت او د وظیفي سرته رسول به د ځان فریضه ګڼئ .

محترمو هیواد والو ! په دي مرکه د جناب امیر المؤمنین د عفوي د پرله پسي فرمانونو له مخي یو ځل بیا غواړم هغو هیواد والوته چي لا اوس هم د افغانستان د اسلامي دولت د مخالفینو په صف کي ولاړ دي توصیه وکړم چي : نور خپل ځانونه ، خپلي کورني او خپل مسلمان او باتور هیواد وال مه کړوي ، وسله به زمکه کیږدي ، خپل ځانونه ، کورني او دشمالي سیمو میړني هیواد وال مه کړوي ، تر څو ټول د سوکاله ژوند خاوندان شي او د اسلامي شریعت په رڼا کي د آرامي ساوکاړي .

همدا شان له دغه فرصت نه په ګټه اخیستلو سره مناسبه ګڼم په ګاونډیو هیوادونو یو ځل بیا غږ وکړو چي : په راتلونکي کښي د ښه ګاونډیتوب او هر اړخیزو فرهنګي او اقتصادي ګډو مرستو د زمیني برابرولو لپاره زموږ په کورنیو چارو کي بر الا او لمسونکي لاس وهني نوري بس کړي او د افغانستان د اسلامي دولت او تنګیالي ملت د خپلواکي ، ګمکني بشپړتیا ، بین المللي او تاریخي حیثیت بشپړ درناوي او متقابل احترام وکړي .

په پاي کي : په اسلامي افغانستان کي د سراسري امن ، سمسورتیا ، اسلامي فرهنګ د بیا رغوني او اسلامي امت د نیکمرغي په هیله .

والسلام علیکم ورحمت الله و برکاته

ستاسي ورور ملا محمد رباني

خداي خبر چي نور به ...

د شر او فساد باغي مخکښانو د پیسو حرص دومره اخیستي وه چي بالاخره ئي بیګانه راوستل او خپله ملي غداري یې ثابته کړه . جاني غونډۍ چي د سرویي د ښارګوټي په جنوب لویدیځه برخه کي د دري سرو د کلي تر څنګ موقعیت لري او داسي ګمان کیږي چي په پخوا زمانه کي دلته یو ښار اباد وه او ویل کیږي چي د جاني غونډۍ څو زره کلن تاریخ لري .

جاني غونډۍ لکه څرنګه چي د نوم او شکل نه معلومیږي او عملاً هم ولیدل شول چي د ډېرو تاریخي اثارو درلودونکي ده د منطقي حاکم د پردیو په لمسون او د یو څو پیسو په مقابل کي دوغۍ غونډۍ زړه څیري کړ د څو ورځو کیندنو وروسته پدغه ځاي کي د ښار په ډول د دوکانو په څیر ووړ ووړ منظمي کوټي کشف شوي چي د کوټو شمیر د پنګلسو نه زیاتي وي کوټي چي د ګنبدي ډیري لرونکي وي په هره کوټه کي منګي وه د منګي په منځ کي خاوره چونه او څو سکي پرتي وي . د دغو کیندنو جریان خارجي پاکستاني انجنیرانو د نژدي نه څاره که څه هم کاریګر غیر فني خلك و چي کیدي شي ځیني قیمتي شیان تري خراب شوي وي څو بیا هم د ۱۲۰ سکي راووتي او صاحب ایخپل جیب کي واچولي

بله واقعه د سرویي د سرچینو د چهل ګزي د اثارو ده په هغه هم د یو منظم پلان او نقشه له مخي چي د اسلام اباد نه راوړل شویوه کیندني پیل شوي چهل ګزي چي د قبر په شکل پروت ده د پښو لخوا لوځ شو چي په لمړي سر کي شګه راووته او په دوهم برخه کي لکه څرنګه چي ورته هدایت شوي وه چونه راووته او په وروستي برخه کي بي یو د سرو زرو آس ، دوه لاکټونه ، دوه چرګان دوه قابونه چي ډېر قیمتي او د ملت قدیمي اثار وه را وویستل او په بهرنیانو وپلورل شول . همداسي په بت خاك کي هم دوه مجسمي کشف او وپلورل شوي . دا هغه واقعیتونه دي چي سترګي تري نه شي پټیدي او نه هم تري انکار کیدي شي اوس چي د طالبانو اسلامي تحریك د اتکل ګړیدي چي د بیا وداتولو تر څنګ خپل ملي او کلتوري اثار چي د پخواني حکومت د افرادو لخوا لوټ او یا پلورل شوي بیرته راپیدا کړي نو یورتني ځایونه دي هم په پام کي ولري چي کـه وتوانیږي دا قیمتي شتمني لاس ته راوړي او ملي موزیم ته یې وسپاري .

سیمینار تعلیمي و تربیتي روساي معارف ولایات دایر گردید

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: در محفلیکه به همین مناسبت تدویر یافته بود ، ابتدا محترم الحاج سید غیاث الدین اغا سرپرست وزارت معارف پیرامون اهمیت و مزایاي تعلیم و تربیه در پرتو ارزشهاي اسلامي صحبت نموده ، متعاقباً محترم مولوي محمد محسن رئیس معارف ولایت هرات ، محترم مولوي عبدالغفور «خدام» رئیس معارف ولایت ارزگان ، محترم مولوي نور الحق رئیس معارف ولایت فراه ، بالترتیب صحبت نموده از توجه دولت اسلامي افغانستان که در امر تدویر چنین سمینار هاي علمي و تربیتي به خرج میدهد ، اظهار قدرداني کردند .

د فرهنګ او کلتور د بیا رغاونې په لور هاند او هڅې ...

فرزندان مسلمان این وطن را در راه فرهنگ اسلامي استقامت داده و جلو فرهنگ استعماري خارجي را در کشور خویش بگیرند .

ایشان افزودند : الحمد لله چنانیکه تحریك اسلامي طالبان ، در تطبیق و گسترش نظام شریعت اسلامي و ایجاد فضاي صلح و امنیت در کشور ، در شرایط دشوار نقش عمده و اساسي گرفتند؛ ما امیدوار هستیم که فرهنگیان محترم کشور در تطبیق ، احیا و غنا مندي فرهنگ اسلامي کشور خویش نقش فعال تر و ارزنده بازي نمایند .

متعاقباً متن دري پیام خردمندانه عالیقدر امیر المؤمنین ، عنواني سیمینار متذکره ، توسط محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد«هوتك» معین مالي و اداري وزارت اطلاعات و کلتور و مدیر مسؤول هفته نامه «شریعت» و متن پښتو پیام ، توسط محترم ملا امیر خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور ، قرائت گردید که در بخش از آن چنین آمده بود : « خواهش من این است چنانیکه برادران طالب به قرباني نمودن سر ها و ریختن خون هاي پاك شان شمله امت مسلمه را بلند ساختند و در حساس ترین شرایط ، تاریخ صدر اسلام را زنده نمودند ، شما هم در میدان فرهنگ و دانش براي مسلمانان باعث افتخار گردید .

ما تا اندازه توان و قدرت که در اختیار داشته باشیم در راه حل مشکلات شما و تربیه نسل جدید در افغانستان دریغ نخواهیم کرد .

در قسمت دیگر پیام چنین آمده : « گرسنگي و تشنگي ، فقر و مسکنت کدام طعنه و پیغور نبوده در نزد پروردگار عیب نمي باشد؛ اما بي دیني ، بي همتي و پیروي از بیگانگان و نعوذ بالله غلامي در دنیا و آخرت باعث ذلت و خواري میگردد . »

هم چنان پیام محترم الحاج ملا محمد رباني ، رئیس شوراي سرپرست دولت اسلامي ، عنواني اشتراك کنند گان سیمینار توسط محترم مولوي رحیم الله «زرمتي» معین نشراتي وزارت اطلاعات و کلتور ، قرائت گردید که در قسمت از آن چنین آمده : « ما از پروردگار خویش نهایت سپاسگذاریم که به فضل و مهرباني خویش و به برکت خون پاك مجاهدین مخلص ما ، اولاً کشور ما و ثانیاً مستضعفین جهان را از هجوم اشغال کمونیزم (شوروي) و بعداً قسمت زیاد وطن ما را از شر ملحدان وطنفروشان و و منحرفین وطني نجات بخشید . »

در قسمت دیگر پیام چنین تذکر رفته بود : « ما در فکر بدست آوردن چوکي ، رتبه ، پول و مال بیت المال نمي باشیم؛ بلکه باید همه فکر و عمل خود را در راه آسایش مردم و نیکبختي دنیا و آخرت خویش وقف نمائیم . ما باید بخاطر تطبیق و نافذ نمودن احکام شرعي ، گوش به گفتار ، خفگان و خوشحالي کسي نباشیم . »

بالترتیب پیام هاي وزارت تحصیلات عالي و اکادمي علوم افغانستان ، عنواني سیمینار متذکره توسط نمایندگان آن ادارات محترم قرائت گردید .

در جلسات علمي و تحقیقي دو روزه این سیمینار هر یك محترم عبدالحق «دانشمل» عضو اکادمي علوم افغانستان ، محترم یار محمد «همشوال» معاون آژانس اطلاعاتي باختر ، محترم معاون سر محقق سید امین «مجاهد» رئیس انستیتوت تاریخ و اتنوگرافي اکادمي علوم افغانستان ، محترم پوهاند گل رحمان «حکیم» رئیس پوهنځي تعلیم و تربیه پوهنتون کابل ، محترم پوهنیار نصر الله «ستانکزي» استاد پوهنځي حقوق و علوم سیاسي پوهنتون کابل ، محترم پوهیالي اسمعیل «یون» استاد پوهنځي زبان و ادبیات پوهنتون کابل ، محترم محمد حسن «مستعد» رئیس اکادمي علوم افغانستان ، محترم معاون سر محقق داکتر الف محمد «شرر» عضو اکادمي علوم افغانستان ، محترم نعمت اللّه اندر رئیس نشرات اکادمي علوم افغانستان ، محترم قتیل «خورباني» و محترم طالب العلم کاکازاده ، معاون بخش اخبار خارجي آژانس اطلاعاتي باختر؛ بالترتیب مقالات شان را به خوانش گرفتند که پیرامون مقالات متذکره جرو بحث هاي علمي صورت گرفت .

خبرنگار ما افزود : مقالات سیمینار بیشتراً روي مسایل بازسازي فرهنگ و کلتور افغانستان اسلامي ، هجوم وحشیانه و ضربات فرهنگي و ثقافتي غیر اسلامي طي دو دهه اخیر بر پیکر فرهنگ و کلچر اسلامي و ملي کشور ، چگونگي غنامندي و احیاي فرهنگ جامعه افغاني و چگونگي مبارزه علیه ثقافت هاي غربي و شرقي جهان ، ترتیب شده بود که دانشمندان و فرهنگیان کشور ، نظریات ، پیشنهادات و طرح هاي خویش را در همین راستا بالنوبه ارائه داشتند .

عالم ، ادیب و مورخ شهیر کشور محترم اکادمسن پوهاند عبدالشکور رشاد در ضمن سخنان شان گفتند : «موږ باید له نړۍ سره د ساینس او تکنالوژي او د ژوند د پرمختګ په ساحه کي سیالي وکړو؛ دا چي حوك د هغوي د ظاهري لباس تر تاثیر لاندي راحي او یا د هغوي په حیر ازاد او د بد اخلاقي ژوند غواړي نو سخته اشتباه بي کړیده .

پوهاند رشاد ، از قول «پاسکال» عالم فرانسوي گفت : ملتونه باید له خپلو امثالو سره تنها د کلتور په ځاي د ژوند د پرمختګ په هره برخه کي سیالي وکړي او تنها د کلتور تقلید ځان لغولول دي . »

در ختم سیمینار قطعنامه (۹) ماده ئي از جانب هیأت رئیسه جلسه پیشنهاد و بعد از ابراز نظر ها ، تعدیلات و تکمیلات پیرامون اصول پیشنهاد شده و اخذ رأي گیري همه جانبه به اتفاق آرا ، تائید و تصویب گردید که توسط محترم طالب العلم خادم احمد«حقیقي» رئیس و مدیر مسوول روزنامه ملي انیس به شرح آتي اصدار یافت :

د کابل ښار د ۱۳۷۵ کال د کب د میاشتي ۲٦ او ۲۷ نیټه

تاریخ شاهدي ورکوي چه زموږ میړني ولس لرغوني تاریخ او نه هیري دونکي ویاړني لري دي باتور ملت د تاریخ او قدرت په ډګر کي ډېري لوړي او ژوري شانه تیري کړي ، ددي سیمو څخه تیر شوي او ډېري سړي او تودي ئي لیدلي وي د چنګیز ، انګریز او روسیانو لوټمارو کړښي نا خوالي له وچه یي په هیڅ وخت کي دښمن ته سر نه دي ټیټ کړي . او په لاسونو او د لوي خداي «ج» په مرسته او د قوي ایمان تر سیوري لاندي ئي خپل هیواد خپل تاریخ ، خپل حریت او خپل فرهنګ ساتلي دي اود خپلو میړنیو نیکونو او پلارونو دغه غوره فرهنګي میراث ئي د یو امانت په توګه ساتلي دي چي له بده مرغه د تیرو دوو لسیزو په موده کي زموږ ویاړلي او لرغوني فرهنګ ته د هغه یادونه او جوړونه زمونږ د فرهنګیانو اساسي دنده شمیرل کیږي له دي کبله د افغانستان د اسلامي دولت د اطلاعاتو او کلتور وزارت وتوانید چه د افغانستان اسلامي فرهنګ او کلتور د بیا رغاونې په لور هاند او هڅي تر سر لیك لاندي اوسنی سیمینار جوړ کړي تر څو ددي ضرورت په پوره کیدو لاري چاري په عملي توګه ولټوي ددي له امله دا دوه ورځني علمي بحثونه او دلته د سیمینار ګډون کوونکي په لاندي توګه دا پریکړلیك صادروي :

۱ - په هیواد کي د اقتصادي او پولټیزي ودي له امله د افغانستان اسلامي دولت د جاري سیاست سره سم ځانګړي کادرونو ته لا زیاته پاملرنه وشي .

۲ - اوسني تعلیمي نصاب بیا رغاونه او وده د اسلامي اساساتو په رڼا کي د اسلامي دولت د لومړیو دندو څخه وشمیرل شي .

۳ - په هیواد کي د سودا کري ته د اسلام د اصولو سره سم وده او پراختیا ورکړل شي .

٤ - تجملي او غیر ضروري شیانو د وار داتو په ځاي د ژوند اساسي اړتیاو د تورید دپاره دوي ته د اسلامي دولت له خوا لوري ورکړل شي .

٥ - د هیواد د ملي اقتصاد د ودي لپاره د ملي صنایعو په چوکاټ کي د داسي صنعو ، او حرفوي صنایعو ته لکه : غالیو ، او ټمبرونو ، جرابو ، بنیانونو ، لاس پوښو او نورو لاسي ګارونو ته بي چي د هغوي د ملي فرهنګ زېرنده ده پراختیا ورکړل شي .

٦ - په هیواد کي د ښار او کلیوالي فرهنګ تر منځ د اسلامي شریعت په چوکاټ کي لازم نږدېوالي منځته راشي او دا به هغه وخت آسانه شي چه ښاري اسانتیاوي کلیوالي سیمو ته ولیږدول شي .

۷ - موثر ددي سیمینار ګډون کوونکي د افغانستان اسلامي دولت فرهنګي او کلتوري سیاست پوره تائیدو او په لړه موده کي د فرهنګي تأسیساتو بیا فعالول چه د اسلامي دولت د اطلاعات او کلتور وزارت د مسؤولینو په نوښت سره شوي موثر دا د دوي اهلیت بیلګه بولو او د قدر په سترګه ورته ګورو .

۸ - ددي دپاره چه فرهنګیان په هیواد خپلي فرهنګي دندي په واړه زړه او مسؤولانه توګه تر سره کړاي شي لازمه ده چه دولت د دوي د ژوند د کړاونو د لري کولو او اقتصادي سمون ته زیاته پاملرنه وکړي .

۹ - څرنګه چه جګړه ایز کلتور د کشالو د هوارولو سره هیڅ راز مرسته نشي کولاي زموږ د سمینار ګډون کوونکي د ټولو وسلوالو ګواکونو څخه غوښتنه کوو چي د دولت د عمومي بښني له فرمان نه په ګټه اخستني خپله وسله په ځمکه کیږدي او د خپلو خلکو سره یو ځاي شي .

بعد از صدور قطعنامه ، محترم ملا امیر خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور ، کار دو روزه سیمینار را ضمن سخن راني عالمانه و دلسوزانه خویش و همچنان تماس بر اهمیت و ضرورت سیمینار متذکره و تدویر ساختن اذهان جهاني مبني بر سیاست فرهنگي و علمي دولت اسلامي افغانستان ، چنین نتیجه گیري نمودند :

بزرگترین دست آورد این سیمینار این میباشد که بعد از سال هاي سال دانشمندان و فرهنگیان ما در افغانستان آزاد اسلامي گرد هم جمع شده و در مورد پیشرفت و غنامندي فرهنگ اصیل و اسلامي وطن خویش ، بحث و نظر خواهي میکنند ایشان علاوه نمودند : امروز این سیمینار ، دشمنان ما را در هر کجا به لرزه کشانید : زیرا آنها به تعجب افتیده اند که امروز افغان ها چگونه بدون فشار دیگران موفق شده اند تا در قسمت احیا و ترقي فرهنگ ملي و اسلامي وطن خویش گرد هم جمع شدند؛ بناً این امر براي دشمنان وطن و فرهنگ ما ضربه بزرگ ، شکست کلي و براي ما کامیابي عظیم تلقي میگردد .

سخنراني محترم ملا امیر خان «متقي» در اخیر سیمینار با عروج نعره هاي پر جذبه تکبیر بدرقه و استقبال گردید .

متن مکمل این سخنراني در شماره هاي آینده هفته نامه شریعت نشرخواهد شد انشاء الله .

محترم مولوي محمد طاهر «انوري» رئیس اداره امور ریاست دولت اسلامي افغانستان ، در رابطه به نتیجه گیري کار سیمینار گفتند : محاسبه در اسلام ، محاسبه ، قلب و دل است ، بیائید تا در غنامندي فرهنگ اسلامي کشور خویش از دل و جان عزم و عمل نمائیم .

سیمینار عصر روز دوشنبه در فضاي امن و اخوت با قرائت دعائیه مبني بر خیر و فلاح ، تأمین وحدت ملي و پیشرفت و ترقي فرهنگ ملي و اسلامي کشور ما ، توسط محترم مولوي رحیم الله «زرمتي» معین نشراتي وزارت اطلاعات و کلتور خاتمه پذیرفت .

در ختم سیمینار خبرنگار ما نظر محترم پوهاند عبدالشکور «رشاد» استاد پوهنتون کابل را در رابطه به تدویر این سیمینار ، مطالبه نمود اوشان گفتند : سیمینار که طي همین دو روز تحت عنوان : « د اسلامي افغانستان د فرهنګ او کلتور د بیا رغوني په لور هاند او هڅي » از جانب وزارت اطلاعات و کلتور ، راه اندازي شده بود ، خیلي مؤثر و ارزنده ارزیابي گردید؛ چرا که فرهنگ و کلتور وطن ما طي سالهاي گذشته زیاد متضرر شده و تحت تأثیر فرهنگ هاي بیگانه قرار گرفته بود؛ بناً بخاطر احیا و ترقي فرهنگ ملي و اسلامي کشور ، تلاش این وزارت قابل قدر و تمجید میباشد که در این امر براي مسؤولین آن وزارت موفقیت هاي مزید خواهانم . »

قابل یاد دهاني میدانیم که تالار کنفرانس هاي هوتل انترکانتننتال در طي همین دو روز سیمینار مزین با این شعار ها بود :

مدارس ما باید جاي بازسازي فرهنگ و کلتور اصیل اسلامي باشد

د افغانستان مؤمن او مسلمان ملت به د هیواد د فرهنګ لوټماران هیڅ کله و نه بښي

مبارزه علیه فرهنگ و کلتور استعماري ، وظیفه هر فرد مسلمان است

مسلمان فرهنګیان دیني دنده لري چي د خپلي اسلامي ټولني د فرهنګ او کلتور څخه د خپل قلم په وسیله دفاع وکړي

د اطلاعاتو او کلتور ...

پروفیسر موګیادي په دي اړه له اسلامي دولت سره د هر ډول همکاري ژمنه وکړه .

یک فروند جت ...

در نتیجه طیاره مذکور سقوط کرد و پیلوت آن اسیر مجاهدین اردوي اسلامي گردید .

محترم ملا محمد غوث ...

امور خارجه دولت اسلامي با متصف القلبي مشاور سیاسي سازمان کنفرانس اسلامي نیز ملاقات نمود .

درین ملاقات طرفین در رابطه به مسایل مورد علاقه و روابط میان سازمان کنفرانس اسلامي و دولت اسلامي افغانستان بحث و تبادل نظر نمودند .

امتحان کانکور شمولیت به ...

در پوهنتون کابل و انستیتوت طب کابل اخذ گردید دو هزارو یکصدو پنجاه فارغ التحصیل صنوف دوازدهم مکاتب شهر کابل و ولسوالي هاي ولایت کابل و ولایات پروان ، کاپیسا ، لوگر ، غزني ، وردك ، پکتیا ، پکتیکا ، خوست و فارغان مکاتب مهاجرین افغاني مقیم پشاور اشتراك نموده بودند . در خبر آمده امتحان کانکور فارغان صنوف دوازدهم ولایات کندهار ، هلمند ، زابل ، ارزگان ، هرات ، بادغیس ، غور ، فراه ، نیمروز ، ننگرهار ، لغمان ، کنرها ، و نورستان توسط هیأت موظف وزارت تحصیلات عالي که قبلاً جهت اخذ امتحانات به ولایات هرات ، کندهار ، و ننگرهار اعزام شده بودند در شهر هاي هرات ، کندهار و جلال آباد اخذ گردید .

خبر مي افزاید امتحانات متفرقه فارغان صنوف دوازدهم مکاتب شهر و ولایات کشور بعداً اعلان میگردد .

شریعت اوونیزه ګډون کوونکي مني

که غواړي چي د هیواد له سیاسي او نظامي حالاتو نه په خپل وخت خبر شي ، که غواړي چي د طالبانو د اسلامي تحریك له افکارو ، اهدافو او نظریاتو نه خبر شي؛ که غواړي چي د سیاسي ، اجتماعي ، تربیتي او اخلاقي مضامینو په لوستلو مستفید شي ، که غواړي چي د جهادي او هنري ادب په ورېمو نو تنده ماته شي نو د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك د افکارو ، نظریاتو ، ارمانونو او اهدافو یوازیني او مرکزي بیانګره « شریعت اوونیزه » کي ګډون وکړي د اوونیزه د یو کال او شپږو میاشتو لپاره ګډون کوونکي مني . «شریعت» ستاسي او ستاسي د کورني ضرورت دي نو فرصت له لاسه مه ورکوئ او په دي اوونیزه کي له هر چا وړاندي ګډون وکړئ

د یو کلن ګډون بیه ٤٨٠٠٠ ، د شپږ میاشتیني ګډون بیه ٢٤٠٠٠ ، د محصلینو او زده کوونکو لپاره نیمه بیه .

آدرس : کابل -وزیر اکبر خان بولسم سرك - ٥٢٠ نمبر کور - تیلفون : ۲۱۳۸۱

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
روپا او امریکا	US$75	US$150

مسؤولیت هاي در قبال دانشگاه

دانشگاه کابل که بزرگترین مرکز علمي کشور ما را تشکیل میدهد در عرصه فعالیت هاي علمي خویش به سطح ملي و بین المللي کسب اعتبار و وجاهت نموده بود و با بسیاري از دول و موسسات علمي جهان از ارتباط و تعامل متقابله بي علمي برخوردار بود و اسناد علمي آن مورد قبول بسیاري از آنها قرار گرفته بود . مؤسسات بین المللي که وظیفه همکاري و معاونت ها را با همچو مراکز علمي و فرهنگي بدوش دارند در گذشته ها به این دانشگاه کم و بیش کمك هاي مادي و معنوي مینمودند گرچه این کمك ها عاري از ملحوظات پنداشته شده نمیتوانست .

این دانشگاه که ضربه ، بزرگ بر پیکر حیثیت علمي و اکادمیك آن در دوره زمامداري کمونیست هاي ملحد و بي فرهنگ وارد آمده و همه تقدس و مصؤنیت هاي که به خود کسب نموده بود آن را از دست داد ، صد ها تن از محصلین پسر و دختر و استادان آن به زندان و جوخه ، اعدام سپارده شدند و این دانشگاه به بزرگترین مرکز فعالیت هایي فکري و سیاسي گروهاي هاي کافر و بد معاش خلق ، پرچم و سایر گروه هاي متحرف مبدل گشت . و متاسفانه در دوره زمامداري اداره ائتلافي مجاهد نما ، پیکر ظاهري و مادي آن هم متضرر و صدمه ، شدید برداشت و همه وسایل واسباب درسي ، تحقیقاتي و مطالعاتي خود را از دست داد و لابراتوار هاي مجهز و فعال آن در کنار سایر اجناس دولتي محو و نابود شد .

گرچه حال و احوال سایر موسسات علمي و فرهنگي ، مدارس و مکاتب کشور هم تسلي بخش نبوده موانع مختلفي در راه فعالیت هاي آنها به چشم مي خورد که خالي از اشکال نمي باشد .

اما آنچه به دولت نوجوان اسلامي افغانستان در این قسمت ارتباط میگرفت به قدر طاقت و حتي فراتر از آن به کار گرفت که الحمدلله اینك پوهنتون کشور را امروز به رخ فرزندان کشور باز مي یابیم و آماده پذیرش شاگرد و محصل و اما آنچه از پرسونل متخصص ، علمي و مسلکي و سایر امکانات درسي و معیشتي که پوهنتون متاسفانه از آن بي بهره است و یا اگر هست هم ناچیز و غیر کافي میباشد ، وبال ، گناه و مسؤولیت آن به دوش دولت نبوده و دولت تنها قادر به این نخواهد بود که تمام شرایط لازم را براي فراگیري تعلیم و تحصیل در این موسسات فراهم آورد زیرا از توان و طاقت فعلي آن خارج میباشد .

افغانستان خانه ، مشترك همه افغانها بوده اعمار ، شگوفایي ، ترقي و تعالي آن و در راه حاکمیت دیني و ملي آن قربان نمودن سر و مال از وجایب و وظایف ضروري هر مرد و زن این کشور میباشد ، بخصوص آنانیکه از آب ، هوا و آبله ، دست و پا و عرق پیشاني دهقانان ، کارگران و مستضعفان این مرزو بوم استفاده بي بیشتري بردند و به پول تکس ، مالیه و ... فرزندان بیچاره ، این کشور تعلیم و تحصیل نمودند و به مدارج عالي علمي دولتي و سیاسي رسیدند ، نام ها و نشان هاي بزرگ بزرگ علمي و دولتي را کمایي کردند و چند سیاهي هم به عیش و نوش و غافل از همه مسؤولیت هاي که در قبال حفاظت دین و آیین ملت خود و ارزش هاي ملي و اجتماعي جامعه خود داشتند زندگي بسر بردند و در قبال هر حادثه و پیش آمد که از داخل و یا خارج الهام میگرفت کیان و هویت دیني و ملي ما را تهدید میکرد بي تفاوتي و بي طرفي !!! اختیار نمودند که در اثر آن آنچه در این دو دهه بر ملت ما آمد و جریان دارد تراژیدي ترین صفحه ، تاریخ معاصر جهان را تشکیل میدهد وا حسرتا !

بلي ! امروز هر فرد ما در قبال احیا ، بازسازي و رشد مادي و معنوي جامعه خویش مکلف میباشیم و بزرگترین مسؤلیت و وجیبه ما در قبال تعلیم و تربیه سالم اولاد ها ، برادرها و خواهران ما میباشد که باید در این جهاد بزرگ دیني و ملي نسل آینده کشور مسؤولانه باندیشیم و هر یك به قدر طاقت و توان مادي ، معنوي و علمي خویش در حصه شکوفایي مراکز علمي ، دیني و تحصیلي خود بخصوص دانشگاه بزرگ کابل سهم بگیریم و به پیش گرفتن بهانه هاي خورد و کوچك که رفع مسؤولیت ما را در مقابل خدا «ج» ، ملت و تاریخ توجیه کرده نمي تواند خود داري نمائیم ، از منفي گرایي و به اصطلاح مشهور از « طلب الکل فوت الکل » در این برهه ، حساس ، تاریخي و سرنوشت ساز کشور ابا ورزیم ، اگر توانسته باشیم که سر به جیب تفکر و تعقل فرو بریم احساس و عواطف خویش را بیشتر فعال سازیم و به فکر و خیال سنگر هاي داغ و خونین مقاومت و دفاع از حاکمیت دیني و ملي ، تمامیت ارضي و استقلال کشور شویم که فقیر ترین و بیچاره ترین فرزندان این مرز و بوم «طالب» که کتاب و قلم را در مسجد و مدرسه گذاشته و از آن دفاع و حراست مینمایند و براي برادران مکتبي و دانشگاهي خود زمینه ، زندگي آبرومندانه و تعلیم و تحصیل را فراهم مي آورند و خود از این نعمت بزرگ محروم میگردند ، آیا بالا تر از این ایثاروشریف تر ازاین احساس عالي سراغ خواهد شد ؟

مسؤولیت که در این زمینه به استادان و شخصیت هاي کدري و علمي این دانشگاه راجع میشود بزرگتر و بالا تر از همه میباشد زیرا اوشان از آغوش این دانشگاه کسب حیثیت و شخصیت علمي و اجتماعي نموده اند و به سرمایه آن ارزیق و تمویل شدند و اگر حالا هم به اوشان به دیده عزت و احترام در حلقه هاي ملي و بین المللي دیده میشود از برکت همین دانشگاه میباشد ، اغراق نخواهد بود اگر بگوئیم که این دانشگاه براي اوشان حیثیت یك مادر و مربي مهربان را دارا بوده که از ذیحق بودند آن به هیچ شکل انکار شده نمي تواند ، در صورت که چنین باشد چه مانع و مشکلي در میان خواهد بود که عقب میز تدریس و در کنار تخته قرار نگیرند و به یك عالمي از محبت و شفقت به تعلیم و تربیه ، ابناً و اولاد خود همت نگمارند ؟

تجار ، متمولین و سرمایه داران ملي کشور امید است که از همه پیشتر و بیشتر در این راه قدم گذاشته از عطیه که خداوند براي شان از مال و منال داده است قسمتي از آن را در راه اعاشه ، اباطه و تجهیز وسایل لازم درسي اولاد خود و ابناً وطن صرف نمایند و در این شرایط ذیق و فلاکت بار دست افتاده ، فرزندان جوان کشور را بگیرند .

البته قابل یاد آوري و غور میباشد که جامعه و حلقه هاي بین المللي که در قبال ملت و دولت اسلامي افغانستان مکلفیت هاي دارند و از مسدود بودن پوهنتون و سایر مراکز علمي و تحصیلي تأثر و تأسف نشان میدادند و ایام تعطیل قانوني و موسمي دانشگاه کابل را به توجیهات که خود به آن راضي بودند توجیه میکردند ، دیده شود اکنون که در روازه هاي پوهنتون به رخ اولاد وطن کشوده گردیده اوشان در این مورد چه احساس مسؤولیت نموده دست کمك و تعاون به این طرف دراز خواهند کرد و همچو گذشته ها به کمك هاي مادي و معنوي خود همت خواهند گذاشت ! و یا به بهانه هاي مختلف و ربط دادن مسایل و قضایاي جدا از هم به یکدیگر و به پیش کردن شرایط فاسده که هدف از آن تنها و تنها حفظ اساسات نظام سیکولرستي و جلوگیري از حاکمیت نظام اسلامي در میان امت و جوامع اسلامي میباشد خود داري نموده و طرفه خواهند رفت !

د کاپیسا والي محترم مولوي خوشحال د هغه ولایت د اړوندو ریاستو چاري وکتلي

د کاپیسا ولایت نه د شریعت اوونیزي خبریال خبر راکړ چي د کاپیسا ولایت والي محترم مولوي خوشحال په داسي حال کي چي ددي ولایت د عامي روغتیا رئیس هم ورسره و د کاپیسا ولایت مختلفي اداري او ریاستونه وکتل او د نظم او چارو د لاسه سمون لپاره یي مسؤولینو ته لازمي لارښووني وکړي .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar